د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۴۰ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰ د غويي ۲۵مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ.




اختر مو مبارک شه، خدای دې وکړي چې دغه اختر زموږ په گران هېواد کې د دايمي سولې د ټينگښت پيلامه شي.





د هېواد ولسمشر د اختر ورځې په وينا کې طالبانو ته وړانديز وکړ چې جمهوريت او امارت دې په افغانستان کې د ستونزو په اړه په يوه لويه جرگه کې بحث وکړي.
محمد اشرف غني وايي: «طالبانو ته وايم چې د اوس په شان ښه فرصت نه شئ پيدا کولی، دا تر ټولو ښه فرصت دی، نړیوال ځواکونه ووتل، افغانان د سولې لپاره اجماع لري، د افغانستان خلکو خپله غېږ پرانيستې ده چې راشئ، د جمهوريت لمن او د خلکو غېږ پراخه ده.»



۸ صبح
د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری




# سرکرښي

## افغانان د دایمي اوربند غوښتونکي دي

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د کړکېچ د اوارې په موخه باور جوړونه یو مهم اصل دی. د جګړې لوري تل هغه وخت یوه جوړجاړي ته رسېدلي چې د یو بل په وړاندې نرمښت وښیي او داسې چارې ترسره کړي چې ترمنځ یې د باور فضا رامنځته شي.

د افغانستان د روان کړکېچ په اواري کې هم باور جوړونه یو مهم اصل دی؛ تر هغه چې دواړه لوري په خپلو دریځونو کې نرمښت ونه ښیي او ترمنځ یې د باور فضا رامنځته نه شي جوړجاړی ناشونی دی. نو که دولت او طالبان په سوله بیز او له تاوتریخوالي پرته چاپېریال کې د افغانانو پر حق باور لري باید چې پر اوږدمهاله او دایمي اوربند سره سلا شي، ځکه خلک له جګړې سخت ستومانه شوي او په هېواد کې د تاوتریخوالي د دایمي دربدو غوښتونکي دي او همدا راز د جګړې دربدل د ستونزو د سوله بیز حل یوازینی لار ګڼي.

امنیت چې د هرې ټولنې لومړنی حق دی، له بده مرغه له تېرو څلورو لسیزو افغانان له دې حقه بې برخې دي او په دې موده کې یوازې د وير او غم په تږغ ناست دي، آیا افغان اولس یوازې د اختر په دربیو ورځو کې د خوښۍ د لمانځلو وړ دي؟ آیا یوازې د اختر په دربیو ورځو کې امنیت ته اړتیا لري؟ دغو پوښتنو ته په ځواب کې باید ووایو چې، سوکاله ژوند، امنیت او آرامي د هر وګړي طبیعي او دایمي حق دی نو باید دي چې پر داسې اصولو هوکړه وشي چې د افغان اولس لپاره د دایمي سولې او سوکالۍ زمینه برابره کړي.

اوس چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر پیل شوی نور نو د جګړې لپاره دلیل نشته باید دواړه لوري په هېواد کې د جګړه پر پای ته رسولو دایمي او سراسري اوربند سره سلا شي.

که څه هم، د افغانستان د جګړې په لوريو کې تراوسه د دایمي اوربند او جوړجاړي لپاره کلک هوډ نه لیدل کېږي؛ سره له دې چې دولت په ځلونو د دایمي اوربند غوښتنه کړې، خو طالبانو د اوږدمهاله اوربند لپاره چمتووالی نه دی ښودلی، په داسې حال کې چې د افغانستان د کشالې د بنسټیز حل لپاره باید لومړی پر دایمي اوربند هوکړه وشي چې پر رڼا کې یې پر نورو مسلو رغنده او اساسي خبرې اترې وشي.

د افغانستان د سولې په نوي بهیر کې تاکل شوې د ترکیې په استانبول کې مذاکرات پیل شي چې په دې اړه سیمه ییزه او نړیواله اجماع هم موجوده ده، ځکه ټاکل شوې دا ځل خبرې اترې د ملګروملتونو سازمان تر څارنې لاندې ترسره شي او دا یوه هیله منوونکې موضوع کېدای شي.

نو ښه به دا وي چې دواړه لوري د اوږدمهاله او دایمي اوربند په کولو سره د سولې مذاکرات پیل کړي او نور نو روانو وژنو او تاوتریخوالیو ته د پای ټکی کېږدي.

# لیکلړ


- ولسمشر غني: د افغانستان د ستونزو په اړه دې په لویه جرګه کې بحث وشي ۱
- د کابل پر سید الشهدا ښوونځي مرګونی برید او په... ۲
- د بشري حقونو کمېسیون: باید زرتررزه اوربند اعلان شي ۳
- د ننګرهار زده کوونکي: د جګړې ښکېل لوري دې زړه سوی وکړي ٤
- د طالبانو د مشر اخترېز پیغام؛ حکومت مذاکرات سپوتاژ کوي ٥
- امریکا او اروپایي هېوادونه: طالبان دې خپل پسرلني ... ٦
- امریکا له افغانستانه د خوندي وتلو لپاره سیمې ته جنګي الوتکې رالېږي ۷
- مبهم وضعیت؛ اندېښني باید جدي وګڼو ۸
- د یو بل قمار په درشل کې؛ تور لبست او طالب بندیان ۹
- د اختر لنډۍ ۱۰
- مریدنامه ۲۳ ۱۱
- سپین او تور ۱۲
- دریمه لاره ۱٤
- خلیلزاد: که طالبان سوله ونه کړي امریکا به له جمهوریته د دفاع ... ۱٥
- د متن فابریکه ۱٦
- که سیاستوال یې ونه بايلي، پوځيان یې نه بايلي ۱۸
- کورونا ویروس؛ روغتیا وزارت د راستنېدونکو افغانانو... ۲۰



د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب او حفیظ الله علي خیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان



0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# ولسمشر غني: د افغانستان د ستونزو په اړه دې په لویه جرګه کې بحث وشي

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني د اختر په لومړۍ ورځ په خپله وینا کې طالبانو ته وړاندیز وکړ چې جمهوریت او امارت دې په افغانستان کې د ستونزو په اړه په یوه لویه جرګه کې بحث وکړي.

ښاغلي غني د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په اشارې سره وویل چې طالبان له دې ښه فرصت نه شي پیدا کولی. هغه زیاته کړه، که طالبانو ډله یو واقعي بحث غواړي، ټول دې په لویه جرګه کې راټول شي د افغانستان د ستونزو او د هغې حل لارو په اړه یې دې واقعي بحث وکړي.

ولسمشر وایي: «طالبانو ته وایم چې د اوس په شان ښه فرصت نه شئ پیدا کولی، دا تر ټولو ښه فرصت دی، ټولې کیسې ختمې شوې، نړیوال ځواکونه ووتل، افغانان د سولې لپاره اجماع لري، د افغانستان خلکو خپله غبږ پرانیستې ده چې راشئ، د جمهوریت لمن او د خلکو غېږ پراخه ده.» ولسمشر جوته کړه چې دولت د طالبانو د تسلیمېدو غوښتونکی نه دی، بلکې وايي چې سیاسي حل لارې ته سره ورسېږو.

ولسمشر غني وویل چې د سولې په هکله سیاسي اجماع موجوده او په تېره یوه اونۍ کې له سیاسي شخصیتونو او د ګوندونو له مشرانو سره خبرې اترې شوې دي. د ولسمشر په باور ددغو ناستو پایله جوته ده چې جمهوریت تر ټول لوی ملي چوکاټ دی.

د ښاغلي غني په وینا په راتلونکو میاشتو کې د بهرنیو ځواکونو وتل د افغانستان په معاصر تاریخ کې تر ټولو لوی فرصت دی.

د هغه په وینا، د نړیوالو مناسباتو نوی باب پرانیستل شوی او خلکو ته یې ډاډ ورکړ چې نړیواله همکاري په نوي او لا ګټوره توګه برابره شوې.

**له ښاغلي غني او عبدالله سره د بریتانیا او پاکستان د پوځي مشرانو کتنه**

د پاکستان او بریتانیا د پوځ مشران د غويي په شلمه نېټه په یوه نه اعلان شوي سفر کابل ته راغلل او په ولسمشرۍ ماڼۍ کې یې له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره وکتل.

ولسمشرۍ دفتر وايي چې ښاغلي غني د پاکستان د پوځ له مشر قمر جاوید باجوه او د بریتانیا له لوی درستیز سرنیک کارتر سره د سولې بهیر، د افغانستان او پاکستان د اړیکو، د سولې په بهیر کې د پاکستان د رول او په افغانستان کې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په اړه خبرې اترې وکړې.

ولسمشر غني ویلي چې د سولې په ټینګښت کې د سیمې د هېوادونو په تېره بیا پاکستان رول ډېر مهم دی او دواړه هېوادونه یو بل ته له درناوي، ښه ګاونډیتوب او اقتصادي همکاریو پرته بله لاره نه لري.

محمد اشرف غني د بریتانیا او پاکستان له لوړپوړو امنیتي چارواکو سره په کتنه کې د افغانستان او پاکستان امنیت او ثبات له یو بل سره تړلی بللی او په افغانستان کې یې د عادلانه او تلپاتې سولې په راوستو کې د پاکستان د اغیزناک او صادقانه رول غوښتنه کړې ده.

اخوا، د پاکستان د پوځ له لوی درستیز قمر جاوید باجوه د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رییس عبدالله عبدالله هم وکتل. دواړو خوا د افغانستان د اسلامي دولت او طالبانو ترمنځ رغنده خبرواترو پردوام ټینګار وکړ. ښاغلي عبدالله ویلي چې یو سوله ییز افغانستان د افغانانو او د سیمې او نړۍ د هېوادونو په ګټه دی.

**د اوربند په وړاندې غبرګونونه**

له بلې خوا، له هغې وروسته چې طالبانو د اختر په درېیو ورځو کې د اوربند اعلان وکړ، د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني هم دولتي ځواکونو ته امر وکړ چې د اختر په ورځو کې اوربند مراعات کړي.

د ولسمشرۍ دفتر په اعلامیه کې چې د غويي په شلمه نېټه خپره شوې وه ویل شوي و چې افغانان واقعي او دایمي اوربند ته اړتیا لري. په اعلامیه کې جوته شوې وه، اوس چې نړیوال ځواکونه له افغانستانه وځي او د اسلامي نړۍ دیني علما په افغانستان کې جګړه د اسلامي احکامو پرخلاف بولي، طالبان د جګړې او تاوتریخوالي د دوام لپاره هېڅ شرعي دلیل نه لري.

افغان دولت له طالبانو غوښتي چې د دایمي اوربند لپاره د افغانانو غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي او د خبرو میز ته کېني چې خلک خپل اساسي حق ته چې په سوله ییزه فضا کې ژوند کول دي ورسېږي.

طالبانو د غويي په شلمه نېټه د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره د اختر په درېیو ورځو کې د اوربند اعلان کړی و.

اخوا، د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله، د اختر په ورځو کې د طالبانو له خوا د اوربند د اعلان په غبرګون کې ویلي و چې د هېواد د اوسني کړکېچ د اواري یوازینی لار د مذاکراتو بهیر چټکتیا، د جګړې درېدل او دایمي اوربند دی.

له بلوه پلوه، امریکا هم د اختر په ورځو کې د اوربند له اعلانه ملاتړ وکړ، خو ددغه اوربند د غځولو غوښتنه یې کړې وه. د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي و چې افغانان دایمي اوربند او د جګړې د پای ته رسېدو په موخه سیاسي هوکړې ته اړتیا لري.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند هم د غويي په شلمه نېټه ویلي، هېواد یې له هر هغه اقدام هرکلی کوي چې افغانان له تاوتریخوالي وژغورل شي او له طالبانو یې غوښتي چې دغه اوربند وغځوي.



# د کابل پر سید الشهدا

## ښوونځي مرګوني برید او په وړاندې يې غبرګونونه



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د غويي په اتلسمه نېټه د کابل په دیارلسمه ناحیه کې د سیدالشهدا ښوونکي زده کوونکي د رخصتی پرمهال، ددغه ښوونځي ترڅنګ دري پرلپسې چاودنې وشوې چې لـه امله يې ۸۵ تنه مړه او لـه ۱۴۰ زيات ټپيان شول. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین وايي چې ددغه برید ډېری قربانیان د ښوونځي ښځینه زده کوونکې او پر لاره تېرېدونکي وګړي وو. کـه څه هم تراوسه د چاودنې بڼه نه ده جوته شوې، خو ځينې وايي چې موټر بم چاونه وه او یو شمېر بیا دا يو راکټي برید ګڼي. که څه هم کومې ډلې ددغه برید مسوولیت نه دی منلی، خو طالبانو په هغې کې لاس لرل رد کړي دي.

سید الشهدا د کابل په لوېدیځ کې يو لوی ښوونځی دی چې په زرګونه نجوني او هلکان پکې زده کړه کوي، د ښوونځي ترڅنګ يو صحي کلنیک هم دی چې لومړی چاودنه د کلينک په مخکې ښوونځي ته څېرمه شوې ده. د پېښې شاهدان وايي چې امنیتي ځواکونه او امبولانسونه په ځنډ سیمې ته ورسېدل. د کورنیو چارو وزارت ویاند وايي چې دا برید د کابل په لوېدیځ کې د کوثر دانش پر ښوونیز مرکز او نورو ښوونیزو مرکزونو او کابل پوهنتون بریدونو ته ورته و. هغه وايي طالبان په دې برید کې لاس لري خو د طالبانو ډلې ویاند ویلي چې دا ډله پر سید الشهدا ښوونځي په برید کې لاس نه لري.

**غبرګونونه**

پر سید الشهدا ښوونځي برید په ملي او نړیوالـه کچه له پراخو غبرګونونو سره مخامخ شوی دی.

ولسمشرۍ دفتر پر سیدالشهدا ښوونځي برید غندلی دی. ولسمشر غني ویلي: «طالبانو د جګړې او تاوتریخوالي په زیاتولو سره دا ځل وښوده چې نه یوازې په سوله بیړ او اساسي توګه د اوسني کړکېچ اواري ته لېوالتیا نه لري؛ بلکې د وضعیت په پېچلي کولو سره د سولې رامنځته شوی فرصت سبوتاژ کوي.»

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ددغه برید په غبرګون کې ویلي چې ترهګرو د روژې په مبارکه میاشت کې د ښځو او ماشومانو په ګډون په لسګونه تنه په وینو کې لیت پیت کړل او ډېرې کورنۍ د خپلو غړو د ویر په ټغر کینولې.

د ولسمشر دوهم مرستیال محمد سرور دانش هم پر سید الشهدا ښوونځي برید غندلی او په يوه پیغام کې يې ویلي چې دا وحشیانه او انساني ضد عمل د بشري ضد جنایت ځرګنده بېلګه ده.

پخواني ولسمشر حامد کرزي پر سید الشهدا ښوونځي برید يو ترهګر عمل، له افغانان سره ښکاره دښمني او د هېواد د سولې او آرامۍ د دښمنانو کار بللی دی.

په کابل کې د ملګروملتونو د استازولۍ دفتر يوناما هم پر دغه ښوونځي د برید په اړه خواشیني ځرګنده کړې او هغه يې ښکاره ظلم بللی چې ملکي خلک په نښه کېږي.

په کابل کې د اروپايي ټولنې د استازولۍ دفتر دا برید وېروونکی او وحشیانه ترهګر عمل بللی او ویلي يې دي چې د ښوونځي پر زده کوونکو برید د افغانستان پر راتلونکي برید دی.

د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازي هم دا برید غندلی او هغه يې يو ناځوانمردانه عمل بلل دی.

د اسلامي همکارۍ سازمان د يوې اعلامیې په خپرولو سره د کابل په دشت برچي سیمه کې برید په کلکو ټکو غندلی او هغه يې يوه ترهګریزه پېښه یاده کړې ده.

د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون هم پر خپله فیسبوک پاڼه ددغه برید په اړه له افغانانو سره خپله همدردي ځرګنده کړې ده. د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په افغانستان کې د عامو خلکو د وژنې په پای ته رسېدو ټینګار کړی دی.

اخوا د نړۍ د کاتولیک عیسویانو مشر پاپ فرانسېس هم د کابل د دشت برچي برید په خاطر د افغانستان له خلکو سره خواخوږي ښودلې او هغه يې يو غیر انساني عمل بللی دی.

د هند د بهرنیو چارو وزارت هم د يوې اعلامیې په خپرولو سره د کابل د دشت برچي برید غندلی او ویلي يې دي چې د نجونو زده کوونکو هدف ګرځول په حقیقت کې د افغانستان پر راتلونکي برید دی.

د یادولو وړ ده چې له دې مخکې هم د کابل په لوېدیځ کې دې ته ورته بریدونه شوي دي. د ۱۳۹۶ کال د کب په ۲۷مه نېټه پر کوثر دانش ښوونیز مرکز ځانمرګی برید وشو چې پراخه مرګ ژوبله يې لرله. د ۱۳۹۷ کال د کب په ۲۵مه په دشت برچي سیمه کې پر موعود ښوونیز مرکز برید وشو چې لـه املـه يې ۴۸ زده کوونکي مړه او ٦٧ نور ټپیان شول.

همداراز، په دې سیمه کې پر باقرالعلوم او امام زمان جوماتونو، میوند ورزشي کلپ، شهر دوبۍ د ودونو پر تالار او د برچي پر سل بستریز روغتون دې ته ورته بریدونه شوي چې لـه امله يې په لسګونه تنه مړه او ټپیان شوي دي.

### د بشري حقونو کمېسيون:

# باید زرترزره اوربند اعلان شي




◆ راپور: علي حقمل

◆ ژباړه: محمد عزيز پردېس

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د کابل په دشت برچي کې پر سيدالشهداء ښوونځي د خونړي برید په غبرګون کې ويلي چې، «همدا اوس» دې اوربند وشي؛ ځکه چې د ملکي وګړو د تلفاتو کچه د اندېښنې وړ ده. په دې اړه د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د غويي په ۱۹مه نېټه د «د کابل په لويديځ کې د سيدالشهداء ښوونځي د زده کوونکو د وژنې او د ملکي وګړو د وژنې د دوام په اړه» تر عنوان لاندې خبرپاڼه خپره کړې ده.

**د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي چې ښځې او نارينه د هېواد په بېلابېلو سيمو کې وژل کېږي او د ملکي وګړو د وژنې د مخنيوي لپاره يوازينۍ لار دايمي اوربند دی. دغه بنسټ له طالبانو غوښتي دي چې د تلپاتي اوربند د ټينګښت لپاره ژمن پاتې شي.**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د خبرپاڼې په اساس، د دشت برچي پر سيدالشهداء ښوونځي په برید کې له ۶۰ پورته وژل شوي او ۱۶۰ تنه نور ټپيان شوي دي. دا هغه ارقام دي چې د دغې اعلاميې تر خپرولو نېټې پورې ترلاسه شوي دي. د بشري حقونو خپلواک کميسيون موندنې ښيي چې د روژې په مياشت کې (د اپرېل له ۱۳مې نه د مې تر ۷مې نېټې پورې) د ۱۳۰ پېښو له امله ۵۱۹ تنه ملکي وګړو ته تلفات اوښتي چې په دې کې ۱۶۰ تنه وژل شوي او ۳۵۱ تنه ټپيان شوي دي. په دغو شمېرو کې د سيدالشهداء پر ښوونځي د شوي برید د تلفاتو شمېر شامل نه دی.

دغو مواردو ته په کتو د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي چې افغان دولت د نړيوالو بشردوستانه قوانينو او نړيوالو حقونو پربنسټ دنده لري له هغو وګړو چې د جګړې جنايتونو په خطر کې وي ساتنه وکړي او د بشري جنايت او قومي نسل وژنې مخه ونيسي. د دغه بنسټ په وينا، نړيوال قوانين دولت مکلف بولي چې د نسل وژنې، جنګي جنايات او د قوميت او جنسيت پر اساس ځورونې د مخنيوي په پار لازم تدابير ولري. د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د خبرتيا په اساس، د شنبې ورځې برید څخه شاوخوا شپږ مياشتې وړاندې، د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر کې د کوثر دانش پر ښوونيز مرکز برید کې څه باندې ۴۰ زده کوونکي ووژل شول. په همدې توګه نږدې يو کال وړاندې د ۲۰۲۰ کال د مې په مياشت کې ۱۱ امېندواره مېندې، دوه هلکان او يوه قابله په بې رحمۍ سره ووژل شول او پنځه تنه مېندې ټپيانې شوې. د بشري حقونو خپواک کمېسيون وايي چې دغه کړنه په ځرګنده ډول د ښځو او ماشومانو وژل دي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ټينګار کړی چې افغان حکومت بايد د نړيوالو مدني او سياسي حقونو مطابق عمل وکړي، د هزاره ګانو د هدفي وژنو مخه ونيسي او د دشت برچي او د کابل د لويديځو سيمو د بشري حقونو لپاره دې چټکه ملاتړې طرحه اعلان کړي. دغه بنسټ وايي چې په دې طرحه کې بايد د ټولنيزو زيانونو د جبرانولو پروګرام هم شامل وي.

**په افغانستان کې د وژنو او تاوتريخوالي د څېړنو لپاره د**

**ملگروملتونو مداخله**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون له بل پلوه ويلي چې د ملگروملتونو سرمنشي انتونيو گوترش بايد په دې اونۍ کې ددې بنسټ د مشرتابه ځانگړې ناسته جوړه کړي. د بشري حقونو خپلواک کمېسيون وايي چې دغه ناسته بايد د اختر له لومړۍ ورځ مخکې ترسره شي او د دې غونډې ترسره کېدل بايد د مې ۱۳مې يعنې له پنجشنبې مخکې وشي. **د بشري حقونو خپلواک کمېسيون له ملگروملتونو غوښتي دي چې ملگري ملتونه بايد په څرگند ډول اعلان وکړي چې د افغانستان د خلکو په اړه څه عملي کار وکړي؟ «ددغو ماشومانو د وژلو او د ملکي وگړو د تلفاتو کچې د لوړېدو په تړاو غور وکړي او دا تضمين کړي چې دغه تاوتريخوالی به بيا هېڅکله نه تکرار کېږي.»**

له بله پلوه، د بشري حقونو خپلواک کمېسيون ويلي چې د ملگروملتونو د ماشومانو او د وسله والو نښتو د چارو ځانگړې خبرياله ويرېجنيا گامب دوپوتژيتر بايد په دې تړاو عملي او څرگند اقدامات وکړي، چې له دې وروسته په ښوونيزو مرکزونو کې داسې پېښې تکرار نه شي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون همداراز ويلي چې ملگري ملتونه بايد د نړيوالو بشري حقونو د ملاتړي بنسټ په توگه د افغانستان په تړاو د امنيت شورا د مخکينۍ پرېکړه ليک او نورو پرېکړه ليکونو پربنسټ ددغو جنايتونو عاملين پيدا کړي.

**د نړيوال څېړنيز کمېسيون رامنځته کېدل**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون وايي چې د ملکي وگړو د تلفاتو د څېړنو لپاره بايد يو حکومتي کمېسيون جوړ شي او انتونيو گوترش دې د ملکي وگړو د تلفاتو په اړه د څېړنو غوښتنه وکړي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د وړانديز له مخې، رامنځته شوی کمېسيون بايد په هراړخيز او تول اړخيز ډول هغه تاوتريخوالي وڅېړي چې د هېواد په گوټ گوټ کې ترسره شوي او د افغانستان خلک په کې په نښه شوي دي.

**د زيانونو د جبران او مستندولو لپاره د بوديجې ميکانيزم رامنځته کېدل د بشري حقونو خپلواک کمېسيون يوه بله غوښتنه ده چې بايد ترسره شي. په خبرپاڼه کې راغلي چې د نړيوالو ځواکونو او د امريکا او د ناټو د غړو هېوادونو په وتلو سره بايد داډ ترلاسه شي چې د زيانونو د جبرانولو او مستندولو لپاره لازم ميکانيزمونه موجود دي.**

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون په پای کې ټينگار کړی چې د افغانستان د جگړې د قربانيانو غږ بايد واورېدل شي. دغه کمېسيون ويلي چې ماشومان حق لري، د شهيدانو او معلولينو وزارت د قربانيانو په رسمي لېست کې شامل شي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون موندلي چې د مخکينيو پېښو (کابل پوهنتون پېښه، د کوثر دانش پر ښوونيز مرکز بريد او د دشت برچي پر زېږنتون بريد) د قربانيانو کورنۍ د شهيدانو او معلولينو وزارت په لېست کې نه دي شاملې شوي چې دغې ستونزې ته بايد د پای ټکی کېښودل شي.

# د ننگرهار زده کوونکي:

## د جگړې ښکېل لوري دې زړه سوی وکړي

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

◆ **حفيظ الله علي خېل ـ ننگرهار**

زده کوونکي هغه پرگنه ده چې جگړه نه غواړي خو د رواني جگړې قربانيان دي. دا غږ له ننگرهاره د دشت برچي په اتفاق مېنه کې پر سيدالشهداء ښوونځي د چاودنې په غبرگون کې پورته شو.

د غويي مياشتې په اتلسمه نېټه د کابل ښار په دشت برچي کې پر سيدالشهداء ښوونځي د يوې چاودنې له امله له ٦٠ زيات کسان مړه او کابو ١٦٠ تنه ټپيان شوي دي. دغې پېښې د هېواد د ننه او بهر گڼ غبرگونونه له ځان سره لرل. په همدې تړاو په ننگرهار کې هم د يوه خصوصي ښوونځي زده کوونکو دغه بريد غندلی او د جگړې له ښکېلو خواوو يې غوښتي چې له زړه سوي کار واخلي.

د ننگرهار ولايت د رسنيو دفتر کې د سپين‌غر خصوصي ښوونځي زده کوونکو د يوې خبري ناستې پر مهال د جگړې له ښکېلو اړخونو د زړه سوي او رحم غوښتنه وکړه او له دوی يې وغوښتل چې د ماشومانو وژل، ټپي کول او ربړول ودروي.

دوی د کابل د وروستې پېښې په اړه خواشيني ښودلې او دا بريد يې غندلی دی. د سيد يوسف په نوم يوه زده کوونکي وويل: «ماشومان په جگړه کې برخه نه لري او د جگړې له ښکېلو اړخونو غواړو چې د ماشومانو له وژلو، ټپي کولو او له هغو کړنو لاس واخلي چې زده کوونکي زيانمنوي.»

د ياسين، سارا او رقيې په نومونو دريو نورو زده کوونکو وويل: «هره ورځ چې له کوره ښوونځي ته ځو مور او پلار مونږ ته ډېر اندېښمن وي، په کابل کې د ماشومانو له وژل کېدو وروسته مو نن ميندې مونږ ته ډېرې خفه وې چې بېرته به ژوندي ستانه شو او که نه»

دغو ماشومانو هم د ټولنې د نورو پرگنو په څېر وويل، مونږ سوله غواړو او جنگ دې بس شي. دوی پر ماشومانو د رحم او عاطفې تر څنگ د قربانيانو لپاره د عدالت غوښتنه هم وکړه.

دولت د دغې پېښې پړه پر طالبانو اچولې خو دغې ډلې دا بريد غندلی او لاس لرل يې په کې رد کړي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې په پلازمېنې کې ښوونيزې ادارې په نښه کېږي، له دې وړاندې هم د مهدي موعود په نوم يوه ښوونيز مرکز پر زده کوونکو چاودنه شوې وه چې لسگونه تنو ته په کې مرگ ژوبله اوښتې وه.



# د طالبانو د مشر اختریز پیغام؛ حکومت مذاکرات سپوتاژ کوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د طاليانو مشر ملا هبت الله په خپل اختريز پيغام کې، د افغانستان حکومت د سولې د سياسي بهير پر سپوتاژ کولو تورن کړ او امريکا ته يې د دوحې له تړونه د سرغړونې په اړه خبرداری ورکړی دی.

د طالبانو د مشر اختريز پيغام، د غويي په نولسمه نېټه خپور شوی دی.

ملا هبت الله په دغه پيغام کې، له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو هر کلی کړی، همدارنګه نوموړي امريکا د دوحې له هوکړې پر سرغړونې تورنه کړې ده.

د هغه په وينا، د هوګړې پراساس د طالبانو بنديان تراوسه نه دي خوشي شوي او د دې ډلې پر غړو او اړوندو بنسټونو لګول شوي بنديزونه نه دي ليرې شوي.

د طالبانو مشر پردې په ټينګار سره چې مذاکرات او جوړجاړی ددې ډلې لپاره لومړيتوب لري افغان حکومت يې د سولې د سياسي بهير پر سبوتاژ کولو تورن کړ. ملاهبت الله په دې پيغام کې، د استانبول ناستې ته کومه اشاره نه ده کړې.

همدارنګه هغه ويلي چې طالبان د موضوع يو مهم اړخ دی او بايد دا ډله په دې هکله جوړو شويو ناستو په اړه له وړاندې خبره وي.

له دې مخکې ويل شوي و چې دغې ډلې له دې امله د استانبول په ناسته کې له ګډونه ډډه وکړه چې د استانبول د ناستې له اجنډا خبر نه وو. ملا هبت الله، د اختر په درېيو ورځو کې اوربند ته هم اشاره نه ده کړې.

دغې ډلې د روژې په مبارکه مياشت کې د حکومت د اوربند وړانديز نه و منلی او ويلي يې و چې د روژې په مبارکه مياشت کې «جهاد» لازيات ثواب لري.

# امریکا او اروپايي هېوادونه:
# طالبان دې خپل پسرلني نه اعلان شوې بریدونه ودروي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

امریکا او اروپايي هېوادونو د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره له طالبانوغوښتي چې خپل پسرلني نه اعلان شوې بریدونه ودروي، چې د ملکي خلکو له تلفاتو مخنیوی وشي.

په دغه اعلامیه کې همدارنګه له طالبانو غوښتل شوي چې روغتونونو، مدرسو، ښوونځیو، پوهنتونونو او جوماتونو ته پر نږدې اهدافو او ملکي سیمو له حملو ډډه وکړي.

د امریکا، اروپايي ټولنې، فرانسې، ایټالیا، جرمني، ناټو، ناروې او بریتانیا ځانګړو استازو په برلین کې د افغانستان د سولې په هکله جوړه شوې ناسته کې دا اعلامیه خپره کړه. ددغې ناستې ګډونوالو په افغانستان کې عادلانه سولې ته د رسېدو پر اړتیا ټینګار وکړ.

په اعلامیه کې طالبان په افغانستان کې د ډېرو تاوتریخوالو مسوول بلل شوي دي. امریکا او اروپايي هېوادونو له ټولو اړخونو غوښتي، چې یوې سیاسي هوکړې ته د رسېدو په موخه د تاوتریخوالي د کمښت په ځانګړې ډول د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره اړین او بېړني اقدامات وکړي.

د برلین د ناستې ګډونوالو له ټولو خواوو غوښتي، چې په هر ډول شرایطو کې له ملکي وګړو په ملاتړ کې نړیوالو بشر دوستانه قوانینو ته درناوی وکړي. د ناستې ګډونوالو له دواړو اړخونو غوښتي چې په بېړه د دوامداره او سراسري اوربند د عملي کولو لپاره هوکړې ته ورسېږي.

د اعلامیې پر بنسټ د هېوادونو او اړوندو بنسټونو استازو، د مدني ټولنې د غړو، علماوو، خبریالانو، د رسنیو د کارکوونکو، د بشري حقونو، د روغتیا برخې او د عدلي او قضايي بنسټونو د کارکوونکو او ملکي وګړو د هدفي وژنو د مخنیوي غوښتنه کړې ده.

دغه اعلامیه په داسې شرایطو کې صادرېږي، چې په څو ولایتونو کې سخته جګړه روانه ده او د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر له پیلېدو وروسته دغې جګړې زور اخیستی دی.

د امریکا او اروپايي هېوادونو د دغې شل ماده ییزې اعلامیې په یوه برخه کې، سولې ته په رسېدو کې د افغانانو له غوښتنې ملاتړ شوی او ټینګار یې کړی چې یوازې د مذاکرې له لارې سولې ته رسېدل شوني دي.

د امریکا او اروپايي هېوادونو استازو د ۲۰۲۰ کال د امنیت شورا ۲۵۱۳ ګڼې پرېکړه لیک ته خپله ژمنتیا اعلان او ټینګار یې وکړ چې په افغانستان کې د زور له لارې هر ډول دولت سره مخالف دي چې د سیمې لپاره به ګواښ وي. د ملګروملتونو د امنیت شورا په پرېکړه لیک کې هم پرې دغې موضوع ټینګار شوی دی.

امریکا او اروپايي هېوادونه زرترزره او بې له شرطه د افغانستان د راتلونکې په اړه د بنسټیزو مذاکراتو غوښتونکي شول. په اعلامیه کې همداراز ویل شوي چې د واک د وېش لپاره مذاکرات چې په پایله کې یې د یوه هراړخیز او قانوني دولت او عادلانه هوکړې لامل شي دوام ومومي.

له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو نېټې اعلان ته په پام سره، د برلین د ناستې ګډونوالو ټینګار وکړ چې د پوځیانو د وتلو پرمهال یې امنیت خوندي شي. د امریکا او اروپايي هېوادونو استازو د برلین په ناسته کې ډاګیزه کړه چې په دې مهال کې د دوی پر سرتېرو د طالبانو برید به له توند غبرګون سره مخامخ شي او ټینګار شوی چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر باید طالبانو له خوا د سولې پروسې د درولو لپاره پلمه نه شي.

امریکا او اروپايي هېوادونو د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته له افغانستان سره په پیاوړې ملګرتیا ټینګار کړی دی. ګډونوالو ویلي چې د سولې مذاکراتو پرمهال به د افغانستان اړتیاوو او نړیوالو مرستو ته پاملرنه وشي او همداراز یې هوکړه کړې چې د سولې له موافقې وروسته د بیارغونې په موخه د نړیوال ملاتړ لپاره هڅې کوي. د ټولو افغانانو په تېره بیا د ښځو او لږکیو حقونو ته درناوی هغه نور موردونه دي چې د ناستې ګډونوالو پرې ټینګار کړی دی.

دوی د افغانانو د ښې راتلونکې په موخه د مشروطو ملکي مرستو د دوام ژمنه کړې ده. د امریکا او اروپايي ټولنې استازو ټینګار کړی چې د سولې هر ډول هوکړه باید د افغانانو په تېره ښځو، ځوانانو او لږکیو حقونه خوندي کړي او باید تېرې اقتصادي، ټولنیزې، سیاسي او پرمختیايي لاس ته راوړنې خوندي او د قانون واکمنی او د افغانستان نړیوالو ژمنو ته درناوی وشي.

د اعلامیې په یوه برخه کې همداراز ټینګار شوی چې دولت او طالبان باید د افغانستان له خاورې د القاعدې، داعش یا نورو ډلو د کارولو او ګواښ د مخنیوي په اړه پر خپلو ژمنو عمل وکړي.

د امریکا او اروپايي هېوادونو استازو یو ځل بیا ټینګار کړی چې له افغان دولته اوسنی او راتلونکی ملاتړ د افغانستان د سولې او پرمختګ د چوکاټ پایلو ته د رسېدو لپاره پر اصولو پر ژمنتیا پورې اړه لري چې د جینوا په کنفرانس کې یې ژمنه شوې وه.

له فساد سره اغېزناکه مبارزه، ښه حکومتولي د فساد ضد قوانینو اجرا له افغان دولته د امریکا او اروپايي هېوادونو غوښتنې دي.

همدارنګه امریکا او اروپايي هېوادونو له طالبانو هم غوښتي، چې د نړیوالو قوانینو پربنسټ د دوی تر واک لاندې سیمو کې د بشردوستانه او له شرط پرته مرستو د لاسرسي زمینه برابره کړي.

د نشه يي توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه هم هغه غوښتنه وه چې د امریکا او اروپايي ټولنې استازو له افغان دولت او طالبانو کړې ده. په دغه ناسته کې د دولت او طالبانو د مرکچې پلاويو غړو په آنلاین توګه ګډون کړی وو.

# امریکا له افغانستانه

## د خوندي وتلو لپاره سیمې ته جنګي الوتکې رالیږي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ع. پ

د امریکا دفاع وزارت اعلان کړی چې سیمې ته ډېر شمېر بم غورځوونکې او جنګي الوتکې استوي چې له افغانستانه د دغه هېواد سرتېري په خوندي توګه ووځي.
د امریکا د دفاع وزیر لوېډ استین او د ګډو ځواکونو لوی درستیز مارک میلي په یوه خبري ناسته کې دغه څرګندونه کړې ده.
د امریکا دغو دوو لوړپوړو پوځي چارواکو همداراز د ترهګرۍ په مخنیوي کې د افغان ځواکونو کړنې هم ستایلي دي.
په دغه ناسته کې مارک میلي وویل چې د امریکا F-۱۸ دولس جنګي الوتکې سیمې ته استول شوې دي او د B-۵۲ ډوله شپږ بم غورځوونکې الوتکې به د ځواکونو د وتلو عملیاتو لپاره وکارول شي. په همدې توګه په سلهاوو تنه ځانګړي ځواکونه د امریکایي پوځیانو د خوندي وتلو لپاره چمتو شوي دي.
په دغه ناسته کې د امریکا د ګډو ځواکونو مشر څرګنده کړه چې د طالبانو له لوري د افغان امنیتي ځواکونو پر وړاندې د بریدونو امکان شته او دا اټکل چې ګواکې طالبان به دولت ته سقوط ورکړي، سم نه دی.
میلي وویل چې د امریکا د دفاع وزارت اوسمهال له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه له افغان امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ د مواردو په ارزولو بوخت دی. په دغو همکاریو کې د افغان امنیتي ځواکونو روزنه او کانګرس ته د افغان پوځ لپاره په اوږدمهاله توګه په کال کې د څلور میلیارده امریکایي ډالرو ورکړې وړاندیز شامل دی.
د میلي په وینا، امریکا په پام کې لري چې د افغان هوایي ځواکونو ملاتړ ته له یوه بل هېواده له لیرې دوام ورکړي.
په دغه ناسته کې د امریکا دفاع وزیر هیله وښوده چې افغان دولت به د طالبانو په وړاندې ودرېږي. لوېډ استین وویل چې د امریکا له ملاتړ پرته طالبانو ته ماته ورکول د افغانانو لپاره ستونزمنه ده. د امریکا د دفاع وزیر وویل چې، هیله من دی افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه د طالبانو په کابو کولو کې مهم رول ولوبوي. هغه زیاته کړه: «هغه څه چې نن یې موږ شاهد یو، دا دي چې تمه مو یې لرله؛ یعني پر افغان ځواکونو د فشار زیاتېدل دي.» لوېډ استین په هلمند کې د افغان امنیتي ځواکونو عملیاتو ته په اشارې سره وویل چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو غوره فعالیت کړی دی.
له بله پلوه، ناټو هم اعلان کړی چې د ناټو ځواکونو د وتلو بهیر دوام لري، خو دغه وتل د همکاریو پړاو ته د پای د ټکي ایښودلو په معنی نه دي. د ناټو عمومي سرمنشي د اروپایي ټولنې د دفاع وزیرانو په ناسته کې وویل چې ناټو سازمان له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ د دوام لپاره د لارو چارو په سنجولو بوخت دی.

# مبهم وضعيت؛

## اندېښنې بايد جدي وګڼو



◆ ليکنه: اسحق‌علي احساس
◆ ژباړه: م. ع. پ

له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتلو د ننه په هېواد او بهر کې جدي اندېښنې رامنځته کړې دي. سيمه او نړۍ د جګړې د پراخوالي او د افغانستان له پولو هاخوا د جګړې د غځېدو په اړه اندېښنه لري. وګړي او سياسي بهيرونه د هېواد دننه د ګډوډۍ او کورنۍ جګړې په اړه اندېښمن دي. دغو ټولو اندېښنو ته په کتو، له هغه وخته چې له هېواده د بهرنيو ځواکونو د وتلو موضوع مطرح شوې، د سولې مذاکراتو د بيا پيلېدو لپاره په سيمه ييزه او نړيواله کچه هم هڅې ګړندۍ شوې دي. که څه هم دغو هڅو تر دې دمه کومه پايله نه ده ورکړې.

په وروستۍ څو اونيو کې د سيمې او نړۍ په کچه د افغانستان د سولې په تړاو څو مهمې ناستې ترسره شوې. ددغو ټولو ناستو پيغام روښانه ؤ: د افغانستان د راتلونکي، د جګړې د پراخېدو او د امارت بېرته راتګ په اړه اندېښنه. له دغو هڅو سره هم مهاله په ډيپلوماتيکه کچه او په بېلابېلو پوځي برخو کې هم د افغانستان د راتلونکي په تړاو د بدو سناريوګانو په هکله اندېښنې څرګندې شوې دي. د امريکا لوی درستيز مارک ميلي له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د افغان پوځ د برخليک په اړه ويلي چې «ډېر اټکلونه او احتمالات موجود دي». هغه د دوو سناريو ګانو په اړه خبرې کړې دي او څرګنده کړې يې ده چې، ښايي پوځ او متحد دولت يې په افغانستان کې دوام ومومي او له بله پلوه ښايي ډېرې بدې پېښې او پايلې رامنځته شي. ښاغلي ميلي ويلي چې د افغانستان راتلونکی د اټکل وړ نه دی.

روسيه هم له افغانستانه د امريکايي او ناټو ځواکونو د وتلو د پايلو په اړه اندېښمنه ده.

په وروستيو ورځو کې د روسيې د دفاع وزير سرګي شويګو د منځنۍ آسيا هېوادونه ته سفر کړی دی. ظاهرا روسيه د افغانستان د بدې سناريو لپاره چمتو کېږي. دغه هېواد په دې اړه اندېښنه لري چې ګواکې افغانستان به د امريکايي او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته په نوييمه زېږديزه لسيزه کې د پخواني شوروي لښکرو له وتلو وروسته وضعيت سره مخامخ شي، دولت به سقوط وکړي او کورنۍ جګړې به پيل شي. روسيه نه غواړي چې د تکرار په صورت کې هغسې بې ثباتي د منځنۍ آسيا هېوادونو ته وغځېږي.

د امريکا او روسيې ترځنګ نور هېوادونه لکه چين، هند، ايران او آن پاکستان هم د افغانستان د راتلونکي په اړه اندېښمن دي. په همدې اساس دغه هېوادونه په بېلابېلو کچو او په بېلابېلو ترکيبونو سره د افغانستان د سولې په تړاو هڅې کوي چې له دې لارې د سيمې او نړۍ امنيت ته ګواښ پېښ نه شي.

دغه اندېښنې د افغانستان تر ټولو بدو سناريوګانو څخه سرچينه اخلي. بده سناريو يعنې، د جګړې د پراخېدو وېره، د پوځ د ړنګېدو وېره، د طالبان له لوري د واک د تلې درنېدل، د بنسټ پالنې وده او د يوې کورنۍ جګړې پيل. هغه خطر چې له دې سناريو ګاونډي، د سيمې او نړۍ هېوادونه ګواښي، دغو هېوادونو ته د بې ثباتۍ غځېدل او د نړۍ په کچه د اسلامي جهاديزم د بهير وده ده. په همدې اساس يوازينی مورد چې د سيمې او نړۍ اجماع په کې رامنځته کېږي، هغه د افغانستان د راتلونکي په اړه اندېښنه او د امارت بېرته راتګ او د جګړې له پراخېدو د نه مخنيوي لپاره د نړۍ يوځای کېدل دي. خو د اندېښنې ځای دا دی چې پر دغو اندېښنو سربېره د افغانستان د سولې په اړه نړۍ د يوه ګډ اقدام لپاره هڅه نه کوي. ظاهرا سيمې او نړۍ په څو محورونو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی.

د ننه په افغانستان کې هم جدي اندېښنې موجودې دي. د ملي روغې جوړې عالي شورا رئيس عبدالله عبدالله سياسيونو ته په خطاب کې خبرداری ورکړی چې يا د طالبانو پر وړاندې متحد شئ او يا د يوې ترخې جګړې په تمه شئ. د هغه ترځنګ دغه اندېښنې د نورو څېرو او شخصيتونو په خبرو کې هم ليدل کېږي. جګړې هم زور اخيستی او د تلفاتو کچه هم لوړه شوې ده.

د سولې او له افغانستانه د امريکايي او بهرنيو ځواکونو د وتلو ناڅرګند برخليک ته په کتو، د افغانستان د راتلونکي په لور لاره اسانه نه ده. د هيله منوونکو اټکلونو ترڅنګ د جګړې د پرخوالي او ډېرېدو او همداراز د نوييمې لسيزې د ترخې تجربې د تکرار وېره هم شته ده.

که افغان دولت د ننه په د هېواد، په سيمه ييزه او نړيواله کچه په جدي اقداماتو لاس پورې نه کړي، نو له دې سناريو تېښته ستونزمن کار دی. افغان دولت په دې خاوره کې د مشروع او ځواب ويوونکي قدرت په توګه د خلکو پر وړاندې مسؤليت لري چې د ننه په هېواد کې له هېڅ ډول هڅو ډډه ونه کړي، چې اجماع رامنځته شي او وګړي جمهوريت ته شاه نه کړي او قانون ته درناوی وکړي او له ډيموکراتيکو لارو حکومتولۍ ته دوام ورکړي.

د سيمې او نړۍ په کچه هم بايد افغان دولت د وصل په ټکي واوړي او د نظرياتو اجماع څخه په ګټې اخيستو سره «د امارت بېرته راتګ او د جګړې له پراخېدو د نه مخنيوي لپاره د نړۍ يوځای کېدو» پر بنسټ جلا جلا هڅې سره يوځای کړي او سيمه او نړۍ سره منسجمه کړي او بلاخره له دغه انسجامه د طالبانو جګړه ييز چلند پر وړاندې د افغان مشروع دولت د غښتلي کېدو لپاره کار واخلي. دويمه لار نه شته او اندېښنې هم جدي دي.

# د يو بل قمار په درشل کې؛ تور لېست او طالب بنديان



◆ راپور: خليل اسير
◆ ژباړه: م. ع. پ

له هېواده د بهرنيو ځواکونو د وتلو بهير له پيلېدو سره هممهاله د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د سولې مذاکراتو د بيا پيلېدو لپاره هڅې دوام لري. دغه مذاکرات چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د شوي تړون له مخې د ۱۳۹۹ کال د وري مياشتې په ۲۲مه د قطر دولت په کوربتوب پيل شوي ؤ، اوس په ټپه ولاړ دي. د دغو مذاکراتو د بيا پيل لپاره د طالبانو ډلې شرط د ۱۳۹۸ کال د کب ۱۰مې نېټې د تړون په بشپړه توګه عملي کېدل دي. خو افغان دولت د مذاکراتو د بيا پيلېدو لپاره هېڅ ډول شرط نه دی اېښی. د طالبانو مهم شرطونه د بهرنيو ځواکونو د بشپړ وتلو ترڅنګ د اوه زره طالب بنديانو آزادېدل او د ملګروملتونو د امنيت شورا له تور لېسته ددې ډلې اړوند غړو او بنسټونو نومونو ليرې کېدل دي. **اوسمهال امريکايي چارواکي د افغان دولت مشرانو او د ملګروملتونو امنيت شورا سره په خبرو بوخت دي چې د طالبانو دغه شرايط عملي شي. هغوی له دې وړاندې له طالبانو ډلې سره ژمنه کړې وه چې د استانبول په ناسته کې ددغې ډلې د ګډون په شرط به ددوی د غړو او بنسټونو د بنډلو او طالب بنديانو د خوشې کولو په اړه له افغان دولت سره کار کوي. په همدې دليل زلمي خليلزاد په خپل وروستي سفر کې له ولسمشر غني او عبدالله عبدالله سره د طالب بنديانو د آزادېدو په تړاو خبرې اترې کړې دي.**

ولسمشرۍ ماڼۍ تر دې دمه د طالب بنديانو د ازادۍ په اړه څه نه دي ويلي. خو له سپېدار څخه سرچينو منلي چې عبدالله د استانبول په ناسته کې د طالبانو ډلې د ګډون په شرط ددغې ډلې اړوندو بنديانو له خوشې کېدو سره هوکړه کړې ده. تمه ده دغه ناسته له روژې وروسته ترسره شي، خو په ورته وخت کې د دغې ناستې د ترسره کېدو کره نېټه لا جوته نه ده. د طالبانو ډلې هم لا تر دې دمه د دغې ناستې په تړاو کومه پرېکړه نه ده کړې. دغې ډلې له دې وړاندې ويلي ؤ چې د امريکا له لوري د دوحې له تړونه د سرغړونې په دليل د استانبول په ناسته کې ګډون ته چمتو نه دي.

**تور لېست**

د ملګروملتونو په امنيت شورا کې د طالبانو او ددغې ډلې اړوندو بنسټونو پر وړاندې د بنديزونو د لګولو طرحه په ۱۳۷۸ هجري لمريز کال کې په پام کې ونيول شوه. په هغه وخت کې طالبان د القاعده ډلې پخواني مشر او بنسټ ايښودونکي اسامه بن‌لادن او ددې ډلې د غړو په پناه ورکولو او ملاتړ تورن ؤ. همداراز دا ډله د نړيوالو بشري حقونو، د ښځو او لږکيو حقونو په ترپښو لاندې کولو تورنه ؤ.

**د ملګروملتونو امنيت شورا د ۱۳۷۸ کال د تلې مياشتې په ۲۳مه نېټه (د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په ۱۵مه) د «۱۲۶۷» ګڼې پرېکړه ليک په تصويبولو سره د طالبانو د مشرتابه ځينو پاتې په ۱۳م مخ کې**

# ادبي ورشو

## د اختر لنډۍ

اختر پرون و پرون تېر شو
دا د دامان کوترو نن سرهٔ کړل لاسونه

اختر پرون تېر شو عالمه
د بغدادو کوترو نن راغلل سیلونه

اختر یوه لویه خوشالي ده
چې زړونه اخلي پرې د عمر پیوندونه

اختر زما په نصیب نشته
زه د وصال په تمه ستا یم مړ به شمه

اختر له تا سره ښاییږي
نور خلك خوشې د اختر هوس کوینه

اختر په وخت د ګلو راغی
زما نازك زړګي نه خېژي فریادونه

اختره! تل تر تله اوسې
زه د الله په در کې دا دعا کومه

اختره! تل تر تله اوسې
چې د ببلتون په کور تر مرګه وي ویرونه

اختره! څنګه به خوشال شم
چې مې په زړه پراته دلی دلی غمونه

اختره! څومره بختور یې
چې دوه یاران یو بل ته غېږې ورکوینه

اختره! ستا خوشالي څه کړم
زه د ببلتون د لاسه اور کې ستي شومه

اختر خو راغی یار مې نشته
د خندا ډکه خوله به چا له ورکومه

## اختره

موسکه شه جانانه ستا د مړاوښکو په شان یم
راشه زرغونتیال مې شه نری نری باران یم

راشه د ځلاندو سترګو والې توره شپه ده
لاره رانه ورکه مسافر د بیابان یم

ښکل دې چې پر تنده کړمه ښکل دې چې سجدې کړم
خال مې کړه پر تنده چې د دوو وروځو تر میان یم

ته زما اختر زما سبب د خوشحالی یې
شین مې له خندا کړه یو ماشوم غونډې ارمان یم

جار دې له خندا شمه چې شین دې له خندا کړم
ستا له برکته خو د ستورو ډک اسمان یم

ستا پرتنده پریوتم پرځان مې شک پیدا شو
ګوره چې کاروان یم که ستا څریکه د پېزوان یم

پیرمحمد کاروان

## اختر

اختر یم  ستا د کلي کور جانانه
بیا ګل میلي ته کوم زور جانانه
ستا غریبانو ته پیغام  ورکوم
درلېږم زړونو ته یو شور جانانه

****

منم اخترغونډې اختر نه یمه
غمجنو زړونو ته خوږ خبر نه یمه
د مجبورۍ نه یو الهام درکوم
مساپرو سترګو ته نظر نه یمه

****

مورجانې پورته کړه نن بیا لاسونه
د اختر ورځ کې د دوعا لاسونه
ټول خپه زړونو ته خندا وغواړه
هغه د سولې ژوندون بیا وغواړه

****

چې اخترو کې مېندې بورې نه شي
هدیرې تګ ته بیا مجبورې نه شي
په سرو نکریزو کړې سره بیا لاسونه
ښکلې به  ښکارې  د دوعا لاسونه

زرلښت حفیظ

# مریدنامه ۲۳

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

داسې یوه کلي ته ورسېدل، چې پخوا په کې یو سور ښامار وژل شوی و. د ښامار وژونکی اتل چا نه پېژانده، اتل د ښامار تر وژلو وروسته په خپله مخه تللی و، خو د ښامار تر وژلو وروسته ګڼو چالاکو او دروغجنو کلیوالو، د ښامار له پوټکي څخه ټوټې راپرې کړې وې او په جیبونو کې یې ګرځولې. کلونه کلونه کېدل، چې پرټول کلي همدغو کسانو راج چلاوه، دوی به د کلیوالو زمکې په زوره اخیستلې، د خلکو ښکلې مېرمنې، پېغلې لونړې او پې مخې هلکان یې په زوره تښتول او زبرزنا به یې ورسره کوله. دوی په رڼا ورځ د کلیوالو شتمنې لوټله او لارې به یې نیولې، که چا به ترې وپوښتل: ولې؟ نو دوی به د ښامار د سره پوټکي ټوټه له جیبه راوویسته او ځواب به یې ورکړ: که موږ ښامار نه وای وژلای، نو اوس به ته د ښامار په خېټه کې وای.

د ښامار د پوستکي ټوټه د جرم جواز و. د کلي راهبانو هم د دغو زورور ملګرتیا کوله او د لوی معبد رسمي فتوا یې داسې ورکړې وه : له هرچا سره چې د ښامار د پوټکي نښه وي، هر کار کولای شي، دا بختوران ازلي او ابدي اتلان دي.

مرید خپل ببر سرې پیر وپوښت: آیا دا کلیوال به د دغو زورورو تر مرګ وروسته وژغورل شي؟

ببرسرې پیر وخندل: نه ! ځکه زورور چې زاړه شي، نو د ښامار د پوټکي ټوټه خپلو زامنو ته په میراث پرېږدي او بیا یې زامن تر دوی ډېر ظلم راپیل کوي. دوهمه ستونزه دا ده، چې د دې کلي زلمی نسل له عقله لرې او اتل پرستان دي، دوی هر هغه څوک چې د ښامار پوټکی ورسره وي خپل مشران ګڼي او تر مرګه یې پالي.

پیر په لرې غره کې د ښامار په توره لیکه سترګې وګنډلې: غم د اتلولی دروغجنه دعوه نه ده، غم دا دی، چې زمکې، ښځې او شتمنۍ په خلاصېدو دي او د پوټکي د نښو خاوندان، چې خپله شتمني په کمېدو ووینې، نو په خپلو منځونو کې سره نښلي. کلیوال زلمیان لکه ړانده ورپسې منډې وهي او یو د بل په وینو ځانونه لمبوي....

... او مرید پوه شو، چې : ریښتینی اتل ورک دی او د غلو له لوري د ښامار د وژلودعوه هسې دروغجنه افسانه ده، چې دوی د خپلو ګېډو، غریزو او جیبونو د ډکولو لپاره جوړه کړې ده او بس !

# د خندا دور

◆ گل آغا احمدي

خدایه کله به بیا دور د خندا په وطن راشي
چې د ښکلیو وربخو ورا مو د آسمان په لمن راشي

زمزمې د ښایستونو په سندرو کې را واخلي
په شېبو شېبو باران مو بیا په سوي چمن راشي

هر یو څاڅکی یې وي زېری د زرغونو پسرلیو
په ښکلا کې یې نیلاب د څنهورو سوسن راشي

د ګلاب له رنګینیو د مرسلو ډلې تاو شي
په تازه، تازه ورشو کې د نرګسو میهن راشي

شنه شالونه شي راښکته په وربل د هرې څانګې
د بلبلو ډلې ټولې د ښایست په دیدن راشي

د بورا رباب ته زانګي ولولې د خوږو مښکو
احمدي سپینې کوترې د هما په ګلشن راشي

# سپین او تور

◆ ژباړن: نجیب منلی

## په تېر پسې

رستم وویل: «دا ابنوس ځناور چېرته ورک شو، له خپلو ځلورو تورو وزرونو سره؟ هغه په داسې بد مرگ مړ کړم!»

توپاز وویل: «هلته بره مې پرېښود چې خوربړي. غواړې چې راویښ یې کړم؟»

- دا مردار خور! پوره شپږ میاشتې کېږي چې ځوروي مې. هغه د کابل دغې بدمرغې مېلې ته بوتلم. هغه را ځخه هغه الماس پټ کړ چې شاهزادگۍ راکړی و. د هغه له لاسه ما سفر وکړ، شاهزادگي مې مړه شوه او ما د نېزې داسې گوزار وخوړ چې په ځوانه ځوانۍ کې یې ژوند راځخه واخیست!»

توپاز وویل: «بې غمه اوسه. ته کله کابل ته نه یې تللی. د کشمیر شاهزادگۍ نه شته. پلار یې یوازې دوه زامن لري چې اوس په ښوونځي کې دي. تا هېڅ کله هم الماس نه درلود. شاهزادگۍ نه ده مړه شوې، ځکه چې پیدا شوې نه ده او ته روغ رمټ یې.»

- ځنگه؟ دا ریښتیا نه دي چې ته د کشمیر د پاچا پر کټ د مرگ پر مهال زما سر ته ناست وې؟ تا په خپله راته و نه ویل چې ته د دې له پاره رالېږل شوی وې چې ما له دومره بدمرغیو وژغورې، ته باز وې، پېل وې، خر وې، طبیب وې، ښارو وې.

- باداره دا هر څه دې په خوب کې لیدلي دي. زموږ خیالونه، نه په ویښه، نه په خوب کې، زموږ په واک کې نه دي. خدای غوښتي وو چې د فکرونو دغه لړۍ ستا په مغزو کې تېره شي او ظاهراً یو ډول لارښونه درته کوي چې ستا په گټه به وي.

- ملنډې راباندې وهې؟ څومره وخت ویده وم؟

- باداره، ایله یو ساعت خوب دې کړی.

- لعنتي فلسفي، ځنگه کېدای شي چې په یو ساعت کې زه شپږمیاشتې د مخه د کابل مېلې ته ولاړم، بېرته راغلم، تر کشمیر پورې ورسېدم او موږ درې واړه، باربو، شاهزادگۍ او زه مړه شو؟

- باداره دا خو ډېره اسانه خبره ده او دا هم کېدای شول چې تر دې په کم وخت کې په ټوله دنیا کې وگرزې، او تر دې ډېرې ماجراوې ووینې. نه گورې چې په یو ساعت کې د پارس د تاریخ لنډیز چې زردشت لیکلی لوستلای شې؟ او دا لنډیز د اته سوه زروکالو کیسه ده. دا ټولې پېښې، یوه بلې پسې، ستا تر سترگو تېرېږي، او دا به راسره منې چې براما کولای شي چې دا هرڅه په یوه ساعت کې سره راټول کړي، یا یې پر اته سوه زره کالو وغځوي. دا هم کټ مټ همداسې دي. داسې وگڼه چې زمان پر داسې یوه ستر څرخ تاوېږي چې قطر یې لایتناهي دی. تر دې لوی څرخ لاندې، یو په بل کې نغښتي، بې شمېره لوی واړه څرخونه دي. هغه د منځ څرخ دومره کوچنی دی چې نه ښکاري. لوی څرخ چې یوه دوره پوره کوي، هغه کوچنی څرخ بې شمېره دورې وهي. ښکاره ده چې د دنیا له پیله تر پایه، ټولې پېښې یوه په بلې پسې د یوې ثانیې تر سل زرمې برخې په کمه موده کې تېرېږي. ویلای شو چې واقعیت کې هم همداسې ده.

- زه په دې شیانو نه پوهېږم.

- که ویې غواړې، زه یو توتي لرم چې په اسانه به دې پرې وپوهوي. هغه د نوح تر توپان یو څه مخکې زېږېدلی، د نوح په کېښتۍ کې و، ډېر څه یې لیدلي او لا یونیم کلن هم نه دی. هغه به درته خپله ټوله کیسه وکړي چې ډېره په زړه پورې ده.

- هله، توتي ژر را ته راوړه، تر څو چې بېرته مې خوب وړي، سات به مې ورسره تېر وي.

- زما د راهبې خور په کور کې دی. اوس به یې راوړم. خوښ به دې شي. ډېره ښه حافظه لري. په ساده ژبه کیسه کوي، هڅه نه کوي چې په حقه او ناحقه ځان هوښیار ښکاره کړي. او غټې جملې هم نه جوړوي.

- ډېر ښه. زما همداسې کیسې خوښېږي.

توتي یې ورته راوړ او هغه دا خبرې وکړې.

**د ۹م مخ پاتې برخه**

**غړو او مشرانو او همداراز د دې ډلې اړوندو بنسټونو باندې بنديزونه ولګول.**

**کوم وګړي او بنسټونه چې ددغه پرېکړه ليک په اساس يې پرې بنديز لګېدلی ؤ، د طالبانو ۱۵۱ غړي، د دې ډلې اړوند لس بنسټونه او د القاعدې ډلې اړوند دوه غړي په کې شامل ؤ. د افغانستان ملي بانک او د ملي هوايي شرکت هم د بنديزونو په دې لېست کې شامل ؤ.**

امريکايانو د ۲۰۱۱ زېږديز کال د مې په لومړۍ نېټه له افغانستانه د يو لړ عملياتو په ترڅ کې اسامه بن‌لادن د پاکستان په ايبټ آباد سيمه کې وواژه. شاوخوا يوه نيمه مياشت وروسته د ملګروملتونو امنيت شورا د ۱۹۹۹ کال پرېکړه ليک ته بيا کتنه وکړه او د دوو نويو پرېکړه ليکونو په صادرولو سره يې د القاعدې ډلې او طالبانو ډلې پر وړاندې د بنديزونو جلا جلا پرېکړه ليکونه اعلان او ببل کړل. په دې توګه د ۱۹۸۸ پرېکړه ليک د طالبانو پر وړاندې او د ۱۹۸۹ پرېکړه ليک د القاعدې ډلې پر وړاندې د ۱۳۹۰ کال د غبرګولي په ۲۲ مه (د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۷ مه) نېټه باندې صادر شو. دغه پرېکړه ليک ته هر کال يو ځل بيا کتنه شوې ده.

د ۱۹۸۸ پرېکړه ليک له مخې، اوسمهال د طالبانو ډلې اړوند ۱۳۵ غړي او په دغې ډلې پورې تړلې پنځه بنسټونه د ملګروملتونو د امنيت شورا تر بنديزونو لاندې دي په تور لېست کې شامل دي. پر هغو وګړو چې له طالبانو سره تړاو لري او هغو بنسټونو چې له نوموړې ډلې سره اړيکې لري لاندې بنديزونه لګول شوي: د سفر بنديز، د شتمنيو کنګل کېدل او هغوی ته د وسلو په پلور بنديز. په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر ډېری غړي هم تر دغو بنديزونو لاندې دي. په دې سره ځينو هېوادونو ته د دوی سفر د ملګروملتونو د امنيت شورا اجازې ته اړتيا لري. البته په دې شرط چې د دوی د ليدنو يوازينۍ موخه د افغانستان له حکومت سره سوله کول وي. دا جواز اوس مهال د دې اداري لخوا د محدود وخت لپاره صادر شوی. ددوی د ځينو غړو شتمنۍ هم ددغو سفرونو له امله له کنګل شوي حالته ايستل شوي؛ خو تر دې دمه د دې شتمنيو د بشپړ معافيت په اړه رايه نه ده ورکړل شوې.

په طالبانو پورې تړلو اشخاصو پر وړاندې د بنديزونو ساتل يا د هغو بنسټونو ببل چې په دې ډلې پورې تړلي دي، د افغان حکومت په پرېکړې پورې تړاو لري او دا يو شرط ګڼل کېږي. په دې توګه د ۱۹۸۸ پرېکړه ليک د څارنې لپاره جوړه شوې کميټه بايد ډاډ ترلاسه کړي چې د افغان حکومت پرېکړه عادلانه ده. په ورته وخت کې بهرنۍ هېوادونه او خپلواکې اداري کولی شي ددغو بنديزونو پر قانوني درېځ تبصره وکړي او آن د بنديزونو د پورته کولو يا ساتلو لپاره کاري کميټې ته وړانديز وکړي.

**د طالبانو غړو او په دې ډله پورې تړلو بنسټونو د بښلو لپاره روښانه شرايط موجود دي. له دغو شرايطو څخه يو دا دی چې بايد د ملګروملتونو امنيت شورا قانع شي چې دغه اشخاص او بنسټونه نور د افغان دولت لپاره ګواښ نه دي او ورسره د سولې لپاره بشپړ ژمنتوالی لري. بل شرط دا دی چې طالبان او په دوی پورې تړلي بنسټونه بايد نړيوال بشردوستانه حقونه، د ښځو او لږکيو حقونو ته درناوی وکړي او له نړيوالې ترهګرۍ سره خپلې اړيکې په بشپړه توګه پرې کړي. تر هغه وخته چې داسې باور او ډاډ نه وي رامنځته شوی نو د بنديزونو د ليرې کولو او ددې ډلې د بښلو لپاره هڅې به ګټورې نه وي.**

**د طالب بنديانو آزادېدل**

د مذاکراتو له سره پيلولو لپاره د طالبانو يو شرط د دولت له لوري د دغې ډلې د پاتې اوه زره بنديانو خوشې کول دي. د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد کابل ته په خپل وروستي سفر کې دغه موضوع له افغان چارواکو سره شريکه کړې ده. ولسمشرۍ ماڼۍ له دې وړاندې ويلي ؤ چې د بنديانو د خوشې کېدو پرېکړه د افغان حکومت له انحصاري صلاحيتونو څخه ده، خو سپېدار بيا ويلي چې په دې تړاو پرېکړه بايد د استانبول ناستې ته ولېږدول شي.

افغان دولت د بين‌الافغاني مذاکراتو له پيله وړاندې شاوخوا پنځه نيم زره طالب بنديان خوشې کړي ؤ.

د هغو معلوماتو په اساس چې امنيتي بنسټونو وړاندې کړي دي، دغه خوشې شوي زندانيان د طالبانو ډلې د ژمنې خلاف بياځلې د جګړې ډګر ته ګرځېدلي دي. د طالبانو ډلې رسماً دغه موضوع نه ده تائيد کړې.

پرته له کوم پرېکنده ضمانته او يوازې د سولې مذاکراتو د پيلېدو په موخه د طالبانو ډلې د بنديانو خوشې کولو ته د «قمار» عنوان ورکړل شوی دی. دولت دغه قمار وبايله او د مذاکراتو د ترسره کېدو لپاره له څو مقدماتي ناستو پرته يې کوم بل څه ترلاسه نه کړل. که د جګړې ډګر ته ددغو آزاد شويو زندانيانو د بېرته ورتګ خبره رښتيا وي، نو دغه ډله د جګړييزو مبارزې له پلوه غښتلې شوې ده. د طالبانو ډله اوس د «فتحې» په نيت له دولت سره جګړه کوي او د تاوتريخوالي کچه يې په پراخه اندازه لوړه کړې ده.

**افغان دولت اوس د يو بل «قمار» په درشل کې دی: د طالبانو پر وړاندې د بنديزونو ليرې کول او د دولت له لوري ددې ډلې د پاتې بنديانو خوشې کول. له طالبانو سره په مذاکراتو کې د امريکا ستراتيژي د «هڅونې» بڼه لري. له تور لېسته د طالبانو د غړو او ددې ډلې اړوندو بنسټونو ايستلو او همداراز د طالب بنديانو په خوشې کولو کې هم د امريکايانو هڅې په دې ستراتيژۍ پورې تړلې دي. امريکا هڅه کوي چې نړيواله ټولنه او افغان دولت د طالبانو پر وړاندې د بنديزونو ليرې کولو او ددې ډلې د بنديانو خوشې کولو ته قانع کړي. له دې کاره د امريکا موخه له افغان دولت سره د مذاکراتو د بيا پيلولو په موخه د طالبانو هڅول دي.**

دې ته په کتو سره د طالبانو ډله تر دې دمه له افغان دولت سره په جګړې بوخته ده. له بده مرغه د هڅونې ستراتيژۍ تراوسه معکوسه پايله ورکړې ده. ډېره ستونزمنه به وي چې د طالبانو ډلې د بنديانو په خوشې کولو او يا هم ددې ډلې پر وړاندې د بنديزونو په ليرې کولو سره سولې ته ورسېږو. دغه کار ښايي د مذاکراتو له بيا پيلېدو سره مرسته وکړي؛ خو په راتلونکې کې د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې د مطلوب تړون ضمانت نه شي ورکولی. ښه به دا وي چې په مذاکراتو کې له پام وړ پرمختګ پرته پر طالبانو ټول فشارونه صفر نه شي او د سولې د پام وړ تړون لپاره بايد باور او ډاډ ترلاسه شي.

# درېيمه لاره



◆ **هامان حورتن**

**يادونه: «په ليکنه کې راغلي نظرونه په ليکوال پورې اړه لري او مجله يې رد يا پخلی نه کوي!»**

د افغانستان حالت تر بل هر وخته حساس سوی دی. د سيمې هېوادونه او نړۍوال لوري دې پايلې ته رسېدلي چې يو امن او له جنگه خلاص افغانستان د ټولو په گټه دی. نړۍوال له اوږدو مذاکراتو وروسته چې جزيات يې لا ښکاره نه دي له طالبانو سره يوه تړون ته ورسېدل او د دغه تړون په پايله کې طالبانو نړۍوال پرستيج خپل او په سيمه او نړۍ کې يې د خپل رسميت پېژندلو په لور يو بل گام واخيست.

له نړيوالو وروسته د طالبان وروستي خو اساسي مذاکرات له افغان لورو سره پيل سول چې په پايله کې به يې يو مشترک او واحد حکومت منځ ته راځي، خو دغه حکومت ته رسېدل ساده او آسانه خبره نه ده پوره نولس کاله جنگ سوی دواړه لوري تلفات لري او هر څوک په نظام کې د ځان د برخې د زياتولو هڅې کوي.

په عمومي توگه درې لاري موجودې دي چې هره يوه يې د ځانگړي تشريح او ځانگړو ستونز ډکه ده.

لومړی لاره دا ده چې طالبان او متحدين يې له افغان حکومت سره يو ځای او د امتيازاتو پر وېش هوکړې ته ورسېږي او يو گډ حکومت را منځ ته کړي، خو له بده مرغه افغان حکومت اوسمهال دونه کمزوری سوی چې يوازې د کابل د کنترول واک لا نه لري او ولايتونو يوازې په مرکزونو پورې محدود سوي او اطراف يې بشپړه توگه سقوط سوي دي.

له بله اړخه طالبان د دې ادعا لري چې نړۍوالو ځواکونو ته يې په نولس کاله کې ماته ورکړې او له هغه سره په يو نړۍوال توافق کې دي او له حکومت سره يو ځای کېدل خپله ناکامي او د خپلو قربانيو ته شرم بولي او دا يوه ناممکنه او غيري عملي لاره بولي. له بله اړخه طالبان له هغه پکېج سره هم په بشپړه توگه مخالفت دي چې د ښاغلي اشرف غني له خوا وړاندې سوی او ځان ته يې د موقت حکومت مشري غوښتې ده.

دوهمه لاره دا ده چې حکومت له طالبانو سره يو ځای او په گډه يو حکومت را منځ ته کړي چې دا تر لومړۍ لارې لاستونزمنه مسئله ده. په واک کې موجود حکومت که قانوني يا ناقانونه دی که واکمن دی که نه دی حاکم څنگه په دومره ساده گۍ له خپلو ټولو امکاناتو او نړۍوالو ملاتړونو سره له يوې مخالفې ډلې سره يو ځای سي نو دا هم عملي او اصولي لاره نه معلومېږي.

نو موږ مستقيم يوې درېيمې د منځ او عملي لارې ته ځو چې هغه د موقتي اداري مسئله ده چې د درېيم گړي په توگه ټول واکمن لوري راټول او بيا د يوه قوي ټول گډون او پياوړي حکومت بنسټ کښېږدي او ټول لوري پکښې شامل کړل سي.

خو دغه درېيمگړی موقت حکومت څنگه د چا له خوا او په کوم پروسيجر رامنځ ته سي دا هغه سوال دی چې ډېر خلک يې اندېښمن کړي دي.

لومړی بايد د موقت حکومت يو تعريف رامنځ ته سي هغه داسې چې دا ځل موقت حکومت متفاوتې دندې لري چې لومړی دنده يې د روانو چارو روان ساتل، د سيستم پر مخ بېول، د يوه سياسي تعامل له پاره د عنعنوي لويې جرگې رابلل چې پر اساس به يې د مملکت ټولي سرې کرښې، د نظام نوعيت او د اساسي قانون په هغه توگه تعديل ترسره سي چې ملت يې غواړي ځکه په اوسني حالت کې چې يو فوق العاده حالت دی هېڅ لوری په خپل سري توگه د نظام د نوعيت، د سرو کرښو او نورو مسايلو د ټاکلو واک نه لري. نه طالبان پر خپل امارت ټينگېدلای سي او نه هم داخلي لوري پر جمهوريت بلکې د يوه ښه سباوون له پاره د لويې جرگې په پايله کې چې له ټول اولس څخه به خلک پکښې وي يوې پايلې ته رسېږي ځکه اساسي قانون چې د هر مملکت د چارو د ښه سمبالولو په خاطر را منځ ته کېږي که چېرې يې ښه پايله نه وي درلودلې تعديل يې اړين او جايزه اصولي مسئله ده.

دوهمه مسئله دا ده چې دا ځل به د موقتي اداري مشري د چا پر غاړه وي دا هغه مسئله ده چې تر دې دمه د ټولو مخالفو او موافقو لوريو جنجال پر روان دی دغه بحران ته هم د حل لاره سته هغه داسې چې د موقتې اداري د مشرۍ د ټاکلو له پاره بايد کريټريا وټاکل سي او د هغه کريټريا پر اساس داسې يو څوک و ټاکل سي چې وکولای

سي د يوه پراخ بنسټه حکومت له پاره بنسټونه کښېږدي.
دغه کرېټريا مو‌ږ د افغانستان ټولنيز او سياسي وضعيت ته په کتلو سره اېښودلای سو چې پراساس يې موږ د موقتي اداري مشرتابه ټاکلای سو.

دغه کرېټريا موږ په خلورو ټکو کې رانغښتلای سو چې لومړی ټکی يې اقتصادي اړخ دی او دا يو واقعيت دی چې د دربيمې نړۍ په هېوادونو کې معمولاً پيسې د سياست اساس دی او کله چې يو څوک واک ته راځي د څو دلايلو پر اساس بايد پيسې ولري.
لومړی دليل يې دا دی چې سياست د پيسو ګټلو، غلاوو، رشوتونو او شرکتونو له پاره نه تر سره کوي.
دوهم دا چې وکولای سي د خپلو پيسو په وسيله او لارو د وطن اقتصادي حالت راپورته کړي او د خپلو اصولو له مخې چې پيسې ګټلي وي وطن هم د اقتصاد پر عملي لورو بوځي.
دريم دا چې ولسونه په دربيمه نړۍ کې اکثرا د غربت او اړتيا او يا هم د کارونو په ښه توګه ترسره کېدلو له پاره پر پيسو او اقتصاد را ټولېږي. بايد د لنډ مهاله اداري د مشرۍ دوهمه کرېټريا دا وي چې ياد کس په هېڅ ډول سياسي تعاملاتو کې مخکې نه وي اوسېدلی ځکه دلته تر ټولو خطرناک ويروس د سياست دلې ټپلې دي او هر څوک چې واک ته راغلی خپل لوری يې تقويه او نور لوري يې کمزوري کړي او دا خپله داخلي کشمکشونه را منځ ته کوي او هېواد يې بحران ته وړی چې د افغانستان د تېرو نږدې نولسو کالو تاريخ يې بهترين ثبوت دی چې ډلو خپل مخالفين په يوه او بل نوم وځپل او خپل موافقين يې وپرسول.
دريم نړۍوالې اړيکې دي يعني ياد کس بايد په سيمه ايزه او نړۍواله توګه له اړيکو برخمن کس وي او وکولای سي چې افغانستان د جګړې په دې تونډ بحران کې د متوازن سياست پر لور بوځي نه د روسيې د بيا را ژوندي کېدونکي ښامار لمن ته وغورځوي، نه د چين د اقتصادي بلا ښکار سي او نه هم د امريکا تېر نولس کلن ناورين بيا تکرار کړي او تر ټولو مهمه لا دا چې نه د پاکستان سره دونه دښمني وپالي لکه تېر نولس کاله چې يې موږ قرباني يو او نه هم هند ته دونه امتيازات ورکړي لکه تېر نولس کاله چې موږ ورکړي دي.
څلورمه او اساسي خبره دا ده چې په افغانستان کې له يوې قوي، قومي، ټولنيز او طبقاتي ستې درلودونکي وي ځکه دلته لا تراوسه پورې قومي او طبقاتي سيستمونه لا ژوندي دي او د خلکو اصل او ريښې ته ډېر ارزښت او اهميت ورکول کېږي.
او پنځمه خبره دا چې په تېرو پنځوس کلنو جګړو کې د هېڅ ډلې برخه نه وي پاته سوی او لاسونه يې په هېڅ ډول وينو او نښه يې توکو سره لړلي نه وي.
پر دغو پنځو کرېټرياو چې هر لوستی او پوه افغان برابر و او ټولو غاړو باور او اعتماد پرې درلود هغه دې مخته کړل سي او د شپږو مياشتو اوربند په پايله کې دې سياسي توافق ترسره او پاته شپږ مياشتې دې د پراخ بنسټه حکومت بنسټ کښېښودل سي او له هغه وروسته به شپږ مياشتې د انتخاباتو او انتقالاتو دوره وي چې دا اتلس مياشتې به د يوه روڼ سباوون پر لور د تلو بيله توقفه يو ښه لنډ مهال دوره وي.
اوسمهال تر دې دربيمې لارې بله مناسبه، آسانه، ژر او ارزانه لار نه سته .

# خليلزاد:
# که طالبان سوله ونه کړي امريکا به له جمهوريته د دفاع په لوري کې ودرېږي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي، زلمي خليلزاد، دولت او طالبان وهڅول چې د سولې له فرصته ګټه پورته کړي او په هېواد کې ځلوېښت کلنې جګړې ته د پای ټکی کېږدي.
خليلزاد، په څو ټويټونو کې ټينګار کړی، که طالبان د سولې او جوړجاړي پر بنسټ راتلونکی و نه ټاکي نو امريکا به له هغو افغانانو سره ودرېږي، چې له جمهوريته ملاتړ کوي.
د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي، د جمهوريت په لوري کې د يووالي پر ساتلو ټينګار وکړ.
خليلزاد، د غويي په اوولسمه نېټه پر خپله ټويټر پاڼه دوحې، تاشکند، کابل او برلين ته د سفرونو پايلې اعلان کړې دي.
زلمي خليلزاد ويلي چې سيمې ته د ده سفرونه د سيمه ايېز اجماع د رامنځته کولو په موخه ترسره شوي.
د هغه په وينا د سولې لپاره بې سارې اجماع رامنځته شوې چې د مذاکراتو له لارې پر هوکړې ټينګار شوی دی.
هغه له ښکېلو لوريو غوښتي چې له دغه فرصته ګټه پورته کړي او د ځلوېښت کلنې جګړې د پای ته رسولو او روغې جوړې لپاره مذاکرات وکړي.
زلمي خليلزاد وايي چې نړيواله اجماع يوازې په سوله نه خلاصه کېږي، بلکې نوي پړاو ته د افغانستان په داخلېدو سره به نړۍ له افغانستانه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.
د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي، په برلين کې له اروپايي چارواکو سره د افغانستان د سولې په اړه خبرې اترې کړې دي.
د دغو ناستو په پايله کې يوه اعلاميه خپره شوه، چې په هغې کې د افغانستان د سولې له بهيره ملاتړ او اوسنی تاوتريخوالی غندل شوی دی.

# د متن فابریکه



◆ احسان الله درمل

انسان یو فزیکي هویت لري او بل شخصیتي. د دغو دوو ډولو هویتونو د ایجاد منابع یو نهٔ دي. انسان په فزیکي ډول د مور له بطنه او په شخصیتي لحاظ له هغه متنه زېږي چې دی یې د ژوند په اوږدو کې لولي/اوري/گوري. د فزیکي وجود منبع مو د مور بطن و بالهٔ خو په اصل کې د انسان د فزیکي هویت په جوړېدو کې یوه لویه فابریکه فعاله ده چې د ډي. این. ای فابریکه یې بولي. د یوه انسان قد، د سترگو، وېښتانو او پوستکي رنگ او بلاخره ټولې فزیکي او محسوسې ځانگړنې د ډي. این. ای په فابریکه کې تیارېږي او بیا د یوه انسان په عمومي فزیک کې په مناسب ډول ځای په ځای کېږي. له دې فابریکې څخه د انسان په وجود کې یو څه غریزي او یونیورسل پوهه هم اېښودل کېږي چې انسان د ماشومتوب له پوله د اوږېدو تر وخته خپله گوزاره په چلوي.

د دغه فزیکي هویت گټه دا ده چې مونږ احمد او محمود له یو بل سره بېلولای او پېژندلای شو. زموږ تذکره په اصل کې زموږ د فزیکي هویت پاڼه ده او همدا دلیل دی چې زموږ عمر، قد او رنگ او حتی یوه نیمه منحصره بفرد نښه په کې ذکر کېږي.

**خو انسان یو بل هویت هم لري چې شخصیتي هویت دی او دا هویت د انسان پر ژوند له مسلط متنه را زېږي. انسان له زېږېدو سره سم صرف فزیکي هویت لري او همدا چې د مور له بطنه را ووځي، یوه بل لوی بطن ته داخل شي. دغه لوی بطن پر ټولنه او انسان د حاکمتن بطن دی. دلته د متن مانا یو څه لویه فرض کړئ. ټول فرهنگي او کلتوري اقدار، دیني عقاید او فرهنگ، د مکتب او مدرسې نصاب او بلاخره ټول لیدلي، اورېدلي او لوستلي فاکټونه چې انسان یې باید متابعت وکړي د متن په برخه کې شاملېږي. نوی ماشوم چې تر اوسه هیڅ شخصیتي هویت نهٔ لري، د متن یوهنوي او لوی بطن ته داخلېږي او کلونه وروسته له یوه نوي شخصیتي هویت سره زېږي.**

په اصل کې د فزیکي او شخصیتي هویتونو د پای او پیل ټکي سره یو ځای دی. په کومه ورځ چې د مور په بطن کې د انسان د فزیکي هویت پولې تکمیلېږي او زېږي، په هماغه شېبه یې د شخصیتي هویت نطفه د متن رحم ته رسي او د دغه هویت لومړۍ ورځ پیلېږي. د فزیکي هویت د تکمیل لپاره شاوخوا ۹ میاشتې وخت ته اړتیا ده، خو د شخصیتي هویت د تکمیل لپاره کلونه پکار دي. ښایي شخصیتي هویت آن تر څلویښت کلنۍ وروسته تکمیل شي .

لکه څرنگه چې د مور و پلار ډي. این. ای د ماشوم د فزیکي هویت په ټاکلو کې بنسټیز نقش لري، همدا ډول پر انسان او ټولنه د حاکم متن څرنگوالی د انسان د شخصیتي هویت په تعریف کې فعاله ونډه لري. لکه خوارځواکې مور چې په فزیکي ډول روغ ماشوم نشي زېږولای، هوبهو همدغسې ضعیف او خوارځواکې حاکم متن هم د معیوبو شخصیتي هویتونو د زوکړې سبب کېږي.

که د مور د بدن غذایي ذخایر پوره نه وي او لا یې وجود د ماشوم د روزلو وړ نه وي، نو نوی ماشوم به له یو عالم فزیکي ناروغیو سره زېږي. دغه خبره د متن د مور په اړه هم سمه ده. که د حاکم متن د مور بدن خوارځواکی او د شخصیت لپاره له اړینو غذایي توکیو خالي وي، نو د دې مور ماشومان د سالم شخصیت او کامل شخصیتي روغتیا تصور هم نشي کولای.

د انسان د دې دوه ډوله هویتونو پرتلنه که اسانه ده خو چې مخکې

ځو نو يوه داسې موږ ته هم رسېږو چې خبره سختېږي او د دې دوو هويتونو د تکامل پروسې له يوې بلې جلا کېږي. د فزيکي هويت پولې مالومې دي. نږدې ټول نارمل انسانان همدا دوه سترگې، دوه غوږونه، يوه خوله، دوه لاسونه، دوه پښې او د انسان د اوسنۍ بڼې اجزاوې لري. که کوم تفاوت دی، يا د دې اجزاوو په ځرنگوالي او اوږدون کې دی او يا په رنگونو کې. **مطلب دا چې موږ په معاصره نړۍ کې د انسان کوم بل داسې ورژن نه لرو چې فزيکي جوړښت يې له اوسني انسانه ډېر توپير ولري. البته د تاريخي او انتروپولوژيکو څېړنو له مخې دوه، دوه نيم ميليونه کاله وړاندې د انسانانو مختلفې بڼې هم موجودې وې، چې نورې يې له چاپېريال سره د عدم توافق له امله له منځه تللې دي او يوازې دا اوسنی انساني ورژن يې پاتې دی. ځرنگه چې د اوسني انسان د فزيکي بڼې د توليد فابريکه يا ډي. اين. ای مشترکه او بنسټيز جوړښت يې يو دی، ځکه نو د انسانانو په فزيکي بڼو او هويتونو کې ډېر د پام وړ تغيير نشته. يوازې د رنگونو او ځينو نورو وړو توپيرونو خبره دومره جدي ځکه نه ده چې هغه د جينونو د توپير ساينسي او طبيعي نتيجه ده.**
پاتې شوه د شخصيتي هويتونو د توپير مسئله. په دې برخه کې توپيرونه ځکه جدي دي، چې پر مختلفو ټولنو مختلف متون حاکم دي. د متونو ټکر، تضاد او د اخلاقي او معنوي اقدارو په اړه د متونو بېلابېلې رايې د دې باعث شوي دي چې مختلفې ټولنې مختلف شخصيتي هويتونه ولري. له بلې خوا، پر هره ټولنه حاکم متن د داسې شخصيتي هويتونو د توليد او روزنې فابريکه ده، چې له همدې ټولنې سره تسامح او توافق وکړای شي. که يوه ټولنه په سايبريا کې اوسي او هلته جوړه شوې فابريکه يخچالونه جوړوي، نو دا فابريکه د دې ټولنې له ټولنيزو اړتياوو سره مخالفه ده. برعکس، که د گرمو سيمو کومه فابريکه د اوړي لپاره پوستينونه توليدوي، نو تاوان کوي. هوبهو دغه کيسه د متن د فابريکې هم ده. له دې فابريکې را وتلې شخصيتونه بلاخره په همدې ټولنه کې مصرفېږي او د همدې ټولنې لپاره توليدېږي. تر دې ځايه که تاسو له ما سره دا خبره منلې وي، چې متن يعنې د شخصيتي هويتونو د توليد فابريکه، نو اوس به د دې کتاب يو بل څېرکی را واړوو.
د ځو شېبو لپاره يوه خيالي سروې وکړئ. فرض کړئ تاسې په يوه داسې هوايي بېړۍ کې سپاره ياست چې نړۍ له پاسه گورئ او په مختلفو ټولنو گرځئ. له تاسو سره يو چېک لېست دی چې د انساني شخصيت ټولې مثبتې او منفي ځانگړنې په کې درج دي. مينه، زړه سوی، له بل سره مرسته، تسامح، د چاپېريال ساتنه، د وطن او خلکو پر وړاندې مسوليت، مسلکي او ټولنيزه ژمنتيا، کورنۍ اړيکې، له خپلوانو سره چلند، له خوارانو او بېوزلو سره چلند، د بل حق خوړل، دروغ، فساد، کرکه، جنگ، تعصب، له وطن او خلکو سره خيانت او سل و زر نورې کرېټرياوې او ځانگړنې. اوس تاسې غواړئ چې د دې چېک لېسټ پر بنسټ په عمومي ډول ټولنې و ارزوئ. فرض کړئ د نړۍ ټولې ټولنې مو و ارزولې او اوس خپلې ټولنې ته راغلي ياست. د دې چېک لېسټ پر بنسټ خپله ټولنه هم و ارزوئ چې څو نومرې اخلي؟
که يې نومرې لوړې وې خو مبارک مو شه او که ټيټې يا حتی منفي وې، نو فکر وکړئ چې د دې ټيټو نومرو علت به څه وي؟

ځواب يې هماغه پر ټولنه حاکم متن دی. د انسان فزيکي هويت د هغه د غړيو او عناصرو له مناسب اوډونه جوړېږي خو شخصيتي هويت يې له انساني خويونو، چې لويه برخه يې له ټولنيز چلند سره اړيکی لري. مانا دا چې يو انسان د بل انسان او ټولنې پر وړاندې څه کوي؟ که د موږ په فزيکي او جنيټيکي سيستم کې ستونزه وي ماشوم به په فزيکي لحاظ معيوب وي او که د حاکم متن منطق سم نه وي، نو د ټولنې انسانان به په شخصيتي توگه نيمگړي وي.
که د شخصيتي هويت لويه برخه له ټولنيز چلند سره تړلې وي، نو فکر وکړئ چې زموږ شخصيتي هويت څومره معيوب دی. خو د دغه عيب پړه د شخصيتونو نه، بلکې د حاکم متن پر غاړه ده. هغه فابريکه چې دغه يې توليد دی.
هندي مفکر اوشو وايي چې فرهنگ زړی يا ونه او انسان يې ميوه ده. که موږ د بادام ونه وکرو او هغه ترخه بادام وکړي، نو ښکاره ده چې موږ تريخ بادام کرلی و خو که د منې بوټی وکرو او ښايسته، خوږې منې ونيسي نو پوهېږو چې بوټی مو سم و. اوشو وايي چې زموږ د عصر انسان لکه تريخ بادام د خوراک او بلې گټې نه دی خو موږ بيا هم د ونې او زړي په صفت نه مږېږو. موږ وايو زموږ فرهنگ، زموږ کتاب او زموږ متن بې جوړې دي خو چې د دې فابريکې توليد (انسان) گورو، نو سخت بې کيفيته دی.
**زموږ د متن يوه برخه نالېکلې ده چې له ټولنې يې زده کوو؛ بله برخه يې ليکلې ده چې په مدرسه، مکتب او پوهنتون کې يې زده کوو. د دې ټول متن مجموعي فابريکه چې کوم انسان توليدوي، هغه زموږ د ټولنيزو ستونزو درد نه دوا کوي، بلکې لا يې پسې ډېروي. يو وخت مدرسو د مولينا رومي، عطار، سنايي، رحمان او خوشحال غوندې خلک توليدول چې د تسامح او مينې کړۍ يې له ټولې دونيا را تاوه وه. اوس داسې خلک توليدوي چې حتی له خپل ځان سره هم په جنگ دي او د خپل ځان او بل د محوه کولو لپاره له ځانه بم جوړوي.**
يو وخت زموږ پوهنتونو نوابغ توليدول خو اوس يې استاد داسې دي چې خپل شاگرد د وطن او خلکو پر ضد جنگ ته هڅوي.
يو وخت زموږ ملا لکه ارواښاد مولينا زين الله منلی داسې و چې هېڅ فرهنگ يې د تکفير او بيگانگۍ په توره نه واهه او له چينې ادبياتو يې هم د خپلو خلکو د فکري او ذوقي لوړتيا لپاره گټه اخيسته خو اوس داسې دی چې پخپلو جوماتونو کې خپل امامان او مقتديان هم ورته کافر ايسي او که يې وس ورسي په يوه درز يې وژنې.
دا ټول د حاکم متن جنجال دی. يو وخت زموږ پر ټولنه حاکم متن داسې و چې هغه ډول شخصيتونه يې توليدول او اوس داسې دی چې دا ډول بلاوې توليدوي.
موږ که غواړو چې خپل اصل ته ور ستانه شو، نو د متن روانه فابريکه بايد داسې جوړه يا بدله شي چې د ليوانو پر ځای انسان توليد کړای شي.
د حضرت حافظ خبره ده چې:

بيا تا گل برافشانيم و می در ساغر اندازيم
فلک را سقف بشکافيم و طرح نو در اندازيم

# که سیاستوال یې ونه بایلي، پوځیان یې نه بایلي



◆ لیکوال: عصمت الله احمدي
◆ ژباړن: سمیع الله سیال

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

د جورج بوش د کاري دورې په پایته رسېدو او د ولسمشر اوباما تر ټاکلو وروسته، د امریکایانو د وتلو اوازه په ځانګړې ډول د ولسمشر اوباما دویمه دوره کې د ټولو پر خوله وه. امنیتي مسؤلیتونه کرار کرار افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته سپارل کېده؛ تردې چې د ۲۰۱۴ زېږدیز کال په لومړیو کې یو شمېر امریکایي او د ناټو غړي هېوادونو پوځیان له افغانستانه ووتل او محدود شمېر یې د غوڅ ملاتړ په چوکاټ کې پاتې شول.

هغه مهال ډېری سیاسي او پوځي کارپوهان باوري وو، چې د ائتلافي ځواکونو په وتلو سره به ګڼ شمېر ولسوالۍ او ولایتونه د طالبانو لاس ته ورشي، امنیتي او دفاعي ځواکونه به وپاشل شي او د هېواد د ساتنې توان به ونلري، د نادولتي سازمانونو رغنیزې پروژې او د خلکو کار وبار به وځنډېږي. یو شمېر خلکو د هېواد دننه او بهر د دولت ناکامۍ او د طالبانو مخته تګ ته په تمه ؤ. په داسې حال کې چې د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته د کندز له سقوط پرته، چې هغه هم څو ورځې وې، هېڅ ولایت سقوط ونه کړ. آن امنیتي او دفاعي ځواکونو د خپل خوږ ژوند په قربانولو سره وتوانېدل چې څو ولسوالۍ په غزني، بغلان او څو نورو ولایتونو کې چې د طالبانو په لاس کې وې، بېرته یې ونیسي. همدارنګه د خلکو کاروبار عادي بڼه غوره کړه.

د امریکا ولسمشر جو بایډن پرېکړه چې د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د سپټمبر تر ۱۱ پورې به ټول ځواکونه له افغانستانه بهر کوي، کومه جدي پایله به ونلري. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له څلورسوه زرو زیات امنیتي او دفاعي ځواکونه لري، چې په پرمختللو ځمکنیو او هوایي وسلو سمبال دي. همدارنګه د کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو کوماندو او ځانګړي ځواکونه او د ملي امنیت د چټک غبرګون قطعې چې له غوره تعلیماتو، وسایلو او محاربوي وړتیاوو برخمن دي، ددغو ځواکونو برخه ده. له ۲۰۱۴ زېږدیز کال راهیسې ځمکني جنګي علمیات ۱۰۰ سلنه او هوایي عملیات ۹۰ سلنه د افغان ځواکونو لخوا پلان او عملي کېږي. ۳۴ ولایتونه، ۳۷۰ ولسوالۍ، لویې او کوچنۍ لارې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ولکه کې دي.

همدارنګه افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه د عمل آزادي لري؛ یعنې د افغانستان په هره برخه کې چې وغواړي، محاربوي عملیات ترسره کولی شي. دا ټول ددې څرګندونه کوي چې افغان دولت د سپټمبر له ۱۱مې نېټې وروسته هم خپل حیات ته د معمول په څېر دوام ورکولی شي.

له سیاسي اړخه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت بشپړ ملي او نړیوال مشروعیت لري؛ منتخب حکومت لري؛ بشري حقونه، د بیان او ښځو ازادي یې اساسي ارزښتونه دي. افغان دولت د امریکا او ناټو په ګډون د نړۍ له ډېری هېوادونو او بنسټونو سره ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي دي. همدارنګه امریکا

ژمنه ده چې، تر ۲۰۲۴ زېږديز کاله پورې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو مالي او پوځي ملاتړ وکړي. په همدې اساس د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له سياسي اړخه په نړيوالې انزوا کې نه دی؛ يعنې د امريکا د وتلو شرايط د پخواني شوروي د وتلو له وضعيت سره په بشپړه توگه توپير لري.

البته د امريکايي ځواکونو وتل، نه د تل لپاره په افغانستان کې جگړې ته د پای ټکی ږدي او نه هم سوله تضمينوي. د سولې اړوند کومه ناسته چې د ملگروملتونو، امريکا او ترکيې تر څارنې لاندې په استانبول کې جوړېږي، که کومې پايلې ته و نه رسېږي، ښايي راتلونکو څو مياشتو کې طالبان هم د مجاهدينو په څېر چې د پخواني شوروي تر وتلو وروسته يې په جلال آباد کې جگړه پلان او عملي کړه، جگړې ته راودانگي.

البته د طالبانو او دولت ترمنځ جگړه د جلال آباد جگړې سره چې مجاهدين په کې د پاکستاني پوځيانو له مستقيم ملاتړه برخمن ؤ، توپير لري. دا ځل به طالبان د دوحې تړون پر اساس د بهرنيو جگړه مارو له ملاتړ او د پاکستاني پوځيانو له مستقيمي مداخلې پرته جنگېږي. ښايي ځينې ښارونه او ولسوالۍ د لنډ وخت لپاره د طالبانو لاس ته ورشي او ممکن انساني ناورين رامنځته شي خو په ټول کې طالبان د اوږدې مودې لپاره د ښارونو او ولسواليو د ساتنې توان نه لري او د امکاناتو او سرچينو له کمښت سره مخ دي.

ويل کېږي چې طالبان ٦٠ زره جنگيالي لري. ښايي د طالبانو ټول غړي ٦٠ زره نه وي؛ پوځي ځواک خو ليري خبره ده. څکه که طالبانو په ځينو درېيمه درجه او آن دويمه درجه ولايتونو کې زر تنه وسلوال جنگيالي لرلی، په کومه روحيه چې دوی جنگېږي هغه ولايت به سقوط کاوه او د طالبانو تر ولکې لاندې به ؤ. په داسې حال کې چې تراوسه له ۱۰ تر ۱۵ ډېرو ولسواليو باندې کنټرول نه لري. طالبان پر امنيتي او دفاعي پوستو د بريدونو لپاره له نورو ولايتونو وسلوال راټولوي. دا په دې مانا دي چې ددې ډلې جنگيالي له څلويښت زرو زيات نه دي. په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د خپلو متعارفو قطعو پرته په اردو او پوليسو کې يوازې څلويښت زره کوماندو او ځانگړي ځواکونه لري.

په دې وروستيو کې چې د امنيتي او دفاعي ځواکونو د لوړو تلفاتو کوم راپورونه خپاره شول، لامل يې د قومندانانو ناغېړي او ځينې نور لاملونه دي. د کوچنيو پوستو جوړول، د غير ضروري موخو لپاره د پوستو جوړول او غير مسلکي کمينونه د دې لامل شوي چې د امنيتي او دفاعي ځواکونو هم تلفات زيات شي. همدارنگه په وخت سره د پوستو نه ملاتړ او د روزنې مطابق د گزمو او کمينونو نه ترسره کېدل، د امنيتي او دفاعي ځواکونو د تلفاتو لاملونه گڼل کېږي. سربېره پر دې د کشفي او استخباراتي بنسټونو د کمزورۍ له کبله د استخباراتي جزئاتو په وخت نه ملاتړ، په گارنيزيونونو کې د مېلمه په توگه د اشخاصو نفوذ او يا په ځينو مواردو کې د امنيتي پرسونل غير اخلاقي کارونه د تلفاتو لامل گرځي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د يوې خپلواکې دفاعي ستراتيژۍ په جوړولو او د پخواني شوروي له وتلو په درس اخيستو او د پورته ستونزو په حل سره کولی شي چې له هېواده په ښه توگه ساتنه وکړي او د تلفاتو کچه هم راټيټه کړي. ترټولو مخربه جگړه رواني جگړه ده. ځينې داخلي او بهرني پوځي او سياسي کارپوهان په ستراتيژيو کې د احتمالي گواښونو په اساس لکه: له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو په ستراتيژۍ کې د شخصي اغراضو له مخې چې د افغان دولت پر وړاندې يې لري وايي: ښايي ځينې لوی ښارونه سقوط وکړي، بشري حقونه، د بيان آزادي، د ښځو حقونه او نورې شل کلنې لاسته راوړنې له منځه ولاړې شي او انساني ناورين رامنځته شي. خو واقعيت دا دی که طالبانو له افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو سره د مقابلې توان لرلی، نو له خپلو زندانونو او يا کليدي غړو څخه به يې چې هره ورځ د ځانگړو ځواکونو لخوا نيول کېږي ساتنه کړې وی يا هم لږ تر لږه ولايتونو ته به يې د لوړ پوړو چارواکو د سفرونو مخه نيولې وای او يا هم ولايتونو ته به يې د خپلو لوړپوړو چارواکو د سفر اعلان کړی ؤ.

نننی افغانستان د اويايمې لسيزې افغانستان نه دی. د ايران د بهرنيو چارو وزير جواد ظريف په وينا: «که طالبانو تغيير نه وي کړی، افغانستان بدلون کړی دی». کله چې طالبان په کابل کې برياليي شول، کابل په کنډوالو بدل شوی ؤ، منظم امنيتي ځواک او واحده رهبري موجوده نه وه. خلک په ټول هېواد کې د ټوپکونو او وسله والو له ظلمونو او کورنيو جگړو خوربدل. له بلې خوا، طالبان مستقيماً د پاکستاني پوځيانو، القاعدې ډلې، عرب جنگياليو، چيچنيانو او نورو هېوادونو له ملاتړه برخمن ؤ؛ د امريکا، برېتانيې، سعودي او عربي هېوادونو مالي ملاتړ يې له ځان سره درلود.

اوس مهال په کابل او لويو ښارونو کې ميليونونه افغانان استوگن دي. ډېری اوسېدونکي يې، برېښنا، انټرنېټ، کمپيوټر، موبايلونو او ټولنيزو رسنيو ته لاسرسی لري، چې هر کله کولی شي د طالبانو پر وړاندې مقاومت وکړي. له ټولو مهمه دا چې نننی افغانستان يو منظم ځواک لري او د يو واحد مشرتابه له خوا رهبري کېږي. دغه ځواکونه له ملي او نړيوال او په ځانگړې توگه د امريکا او ناټو له ملاتړه برخمن دي. خو طالبانو چې کوم ملاتړ په لومړيو کې درلود اوس يې نه لري. آن د طالبانو ملاتړکوونکی، پاکستان «د افغانستان په راتلونکي سياست کې د دولت او طالبانو ترمنځ د قدرت د بيلانس د رامنځته کولو» په هڅه کې دی.

د طالبانو مشران بايد په دې پوه شي چې وخت بدلون موندلی، هغه شرايط چې دوی په کې واک ته رسېدلي ؤ اوس نشته. افغانستان له سياسي، ټولنيز، اقتصادي او له ټولو مهمه دا چې له کلتوري اړخه بدل شوی؛ په تېرو شلو کلونو کې ميليونونه هلکان او نجونې له ښوونځيو فارغ شوي، زرگونه نارينه او ښځينه د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې زده کړې لري او لسگونه زره هلکانو او نجونو د ليسانس تر کچې زده کړې کړي او دغه شمېر ورځ تر بلې په زياتېدو دی. که طالبان غواړي چې له سياسي لارې د افغانستان په پرمختگ او د فساد له منځه وړلو کې رول ولري نو د دوحې او استانبول له رامنځته شوي فرصته دې گټه پورته کړي.

# کورونا ویروس؛ روغتیا وزارت د راستنېدونکو افغانانو د قرنطین وس نه لري

◆ لیکوال: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړن: م. ظ. صمیم

که څه هم په وروستیو ورځو کې د کورونا ویروس د خپرېدو کچه زیاته شوې، خو حکومت تراوسه له ایران او پاکستان سره خپلې ځمکنۍ پولې نه دي تړلې. که څه هم ایران او پاکستان د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره اعلان کړی چې د افغانانو پرمخ یې خپلې پولې تړلې، خو افغانستان تراوسه په دې هکله کومه پرېکړه نه ده کړې او وایي چې وضعیت په دې ډول نه دی چې پولې دې وتړل شي. اوسمهال د هېواد ټولې ځمکنۍ پولې پرانیستې دي او د ورځې په زرګونه هېوادوال له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېږي. د عامې روغتیا وزارت مسوولین وایي چې دغه وزارت په پولو کې خپل ګرځنده ټیمونه ځای پرځای کړي چې راستنېدونکي وګړي معاینه کړي. دا وزارت د هېواد په پولو کې د راستنېدونکو د قرنطین لپاره کوم ځای نه لري او هغه وګړي چې د آزموینې پایله یې مثبته وي، په کور کې د قرنطین سپارښتنه ورته کوي. د عامې روغتیا وزارت مسوولینو د شمېرو له مخې، د ورځې په زرګونه تنه هېواد ته راستنېږي، له دې امله په پولو کې د قرنطین پروګرام نه شي عملي کېدای. په هېواد کې د کورونا ویروس له خپرېدو راهیسې، د دریېم ځل لپاره دا ویروس پراخ شوی دی. د عامې روغتیا وزارت له خوا د اعلان شویو شمېرو پربنسټ، په وروستیو اونیو کې په دغه ویروس د اخته کېدو کچه لوړه شوې ده. ددغو شمېرو له مخې، په تېره یوه اونۍ کې کابو یو زر او نهه سوه تنه په کورونا ویروس اخته شوي دي. همداراز، په یوه اونۍ کې ۵۵ تنه ددغه ویروس له امله مړه شوي او ۸۲۸ نور روغ شوي دي. په دې توګه په تېره یوه اونۍ کې په کورونا ویروس د اخته وګړو شمېر پنځه زره او ۱۱٦ تنو ته زیات شوی او د مړو شویو شمېر هم دوه زره او ٦۸٦ ته رسېدلی دی. له بلې خوا، د عامې روغتیا وزارت مسوولین ټینګار لري چې په وروستیو ورځو کې، په دغه ویروس د اخته وګړو او مړو شمېر زیات شوی دی. په داسې حال کې چې په هېواد کې کورونا ویروس په خپرېدو دی، له ایران او پاکستانه زیات شمېر افغانان هېواد ته راستنېږي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د ورځې په منځني ډول زر تنه د هېواد د ځمکنیو پولو له لارې ایران او پاکستان ته تګ راتګ کوي. له دې امله چې په دغو دوو هېوادونو کې د کورونا ویروس زیات شوی، له نوموړو هېوادونو څخه د افغانانو راستنېدو په هېواد کې اندېښنې زیاتې کړې دي. که څه هم روغتیا وزارت تېر کال د کډوالو او راستنېدونکو او سرحدونو او قبایلو چارو وزارتونو په همکارۍ د راستنېدونکو لپاره په پولو کې د قرنطین مرکزونه جوړ کړي وو، خو اوس د راستنېدونکو افغانانو د قرنطین لپاره کوم ځای نشته.

د عامې روغتیا وزارت وایي چې د راستنېدونکو د آزموینې لپاره یې په پولو کې ګرځنده ټیمونه ګمارلي، خو په کورونا د شکمنو وګړو د قرنطین لپاره کوم ځای نشته. ددغه وزارت ویاند غلام دستګیر نظري، ۸صبح ته وویل چې د عامې روغتیا وزارت په اوسني وخت کې د پاکستان او ایران په پولو کې تر ټولو ډېر ګرځنده ټیمونه لري او دنده یې د راستنېدونکو معاینه کول دي. د نوموړي په وینا، په هغه صورت کې چې دا وګړي د کورونا ویروس نښې ولري او د کووېډ نولس ناروغۍ شک پرې کېږي، د وینې نمونه یې د ولایتونو لابراتوارونو ته لېږل کېږي. د عامې روغتیا وزارت ویاند زیاته کړه، که ددغو وګړو د وینې آزموینه مثبته وي، کورني قرنطین ته استول کېږي. هغه جوته کړه چې دا وزارت په پولو کې د راستنېدونکو د قرنطین لپاره کوم ځای نه لري او هغه وګړي چې د وینې نتیجه یې مثبته وي، په کورونو کې د قرنطین سپارښتنه ورته کېږي.

له بلې خوا، دا وزارت د ټولو راستنېدونکو آزموینه نه کوي، ځکه د ښاغلي نظري په وینا، ددغه وزارت د شمېرو له مخې، یوازې د سپین بولدک له پولې د ورځې ۵۰ زره تنه تګ راتګ کوي چې په یوه ورځ د دومره زیاتو وګړو طبي آزموینه ناشونې ده. هغه وویل: «یوازې په یوه پوله کې د ورځې د ۵۰ زره تنو د ټیسټ یا معاینې ظرفیت نه پاکستان لري او نه هم افغانستان. له دې امله، د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو د روغتیا له وزارتونو سره په همغږۍ دې پایلې ته رسېدلي چې د ځمکې له لارې د وګړو د تګ راتګ یوازې څارنه وکړي او د پي سي آر آزموینې ته اړتیا نشته، ځکه عملي نه دي.» هغه جوته کړه چې ښایي د ورځې کابو سل زره تنه د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ تګ راتګ وکړي او د دغو ټولو وګړو آزمویل ناشوني دي. د عامې روغتیا وزارت ویاند زیاتوي چې افغانستان په څلرویشتو ساعتونو کې د کورونا د اته زره آزموینو ظرفیت لري، له دې امله ټول هغه وګړي چې هېواد ته راځي، نه یې معاینه کوي. هغه وویل: «یوازې د شکمنو وګړو معاینه کېږي او په پولو کې د قرنطین کوم ځای نه لرو او په کورونو کې د قرنطین سپارښتنه ورته کوو.» همداراز، پر ځمکنیو پولو سربېره روغتیا وزارت په هوایي ډګرونو کې ګرځنده ټیمونه ګمارلي دي. که څه هم هغه وګړي چې د هوا له لارې افغانستان ته راځي، باید د کورونا معاینه یې کړې وي، د عامې روغتیا وزارت وایي چې دا وګړي هوایي ډګرونو ته په رسېدو معاینه کېږي. په دې لړ کې هغه وګړي چې له هند څخه افغانستان ته راځي باید هرومرو د کورونا ویروس لپاره معاینه شي. د عامې روغتیا وزارت ویاند زیاتوي چې د کورونا ویروس په تشخیص کې ددغې معاینې حساسیت نوي سلنه دی. له دې سره هغه وایي چې که ددغو مسافرینو د معاینې نتیجه مثبته وي، په بیړه قرنطین کېږي او هغه وګړي چې له دوی سره په تماس کې دي، هغوی ته هم د کورني قرنطین سپارښتنه کېږي. دا په داسې حال کې دي چې ټولو هېوادونو ته الوتنې دوام لري. د ملکي هوایي چلند ادارې مسوولین وایي چې په اوسني وخت کې هر ډول وګړي افغانستان ته سفر کولی شي او د مسافرینو د راتلو لپاره کوم محدودیت نشته. د ملکي هوایي چلند ادارې ویاند محمد نعیم صالحي ۸صبح ته وویل چې په اوسني وخت کې ټولو هېوادونو ته الوتنې دوام لري او هغه وګړي چې افغانستان ته د سفر نیت لري، باید د کورونا ویروس معاینه وکړي او پرته له هغې د راتلو اجازه نه لري. نوموړي همداراز زیاته کړه چې په دغو هېوادونو کې یوازې هند ته پر سفر محدودیت لګول شوی دی. د صالحي په وینا، د هند وضعیت ته په پام سره، یوازې هغو وګړو ته اجازه ورکوي چې د ناروغۍ، تجارتي او تحصیلي ویزې ولري. له بلې خوا، ایران او پاکستان د کورونا ویروس د خپرېدو له امله د افغانانو پرمخ خپلې پولې تړلې دي. ایران د غویي په نهمه او پاکستان د غویي په دیارلسمه نېټه اعلان وکړ چې د افغانانو پرمخ خپلې ځمکنۍ پولې تړي. ناروغان او سوداګر په دغه محدودیت کې شامل نه دي. خو افغانستان تراوسه د پولو د تړلو په اړه کومه پرېکړه نه ده کړې. دستګیر نظري جوته کړه چې په اوسني وخت کې وضعیت په دې ډول نه دی چې پولې وتړل شي یا په ښارونو کې قرنطین عملي شي. هغه وویل چې روغتیا وزارت د کورونا له دریېمې څپې سره د مبارزې لپاره چمتو دی او دا وزارت به شواهدو او واقعیتونو ته په پام سره تصمیم ونیسي. د ویلو وړ ده چې تراوسه په هېواد کې٦۱ زره او ۸۴۲ تنه په کورونا ویروس اخته شوي چې له دې جملې ۵۴ زره او ۴۰ تنه روغ شوي او دوه زره او ٦۸٦ مړه شوي دي. له دې سره په یو وخت، په هېواد کې د کورونا د واکسینو د تطبیق بهیر هم روان دی. د شمېرو له مخې، تراوسه څه د پاسه ۴۰۰ زره تنه واکسین شوي دي.

# عکسونه خبرې لري





د مسلمانانو لومړۍ قبله؛ په تېرو څو ورځو کې پر فلسطین د اسراییلي ځواکونو له خوا پراخ بریدونه شوي دي، چې په لسګونه ملکي وګړي پکې مړه او ټپیان شول. د اسراییلو دا بریدونو له نړیوالو غبرګونونو سره مخامخ شوي او افغان دولت هم دغه بریدونه غندلي دي.





عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative | Today's Mirror | Tomorrow's Hope




## آخر دا وژنې تر کله!؟

د غوېي په اتلسمه نېټه یو ځل بیا کابل د تنکیو ماشومانو په وینو رنګ شو، په دې ورځ د کابل په لوېدیځ کې سیدالشهدا ښوونځي ته څېرمه درې پرلپسې چاودنې وشوې چې له امله یې د نجونو او هلکانو په ګډون ۸۵ ملګي وګړي مړه او له ۱۴۰ زیات ټپیان شول.






